۱۳۵۰ اسد
8/71
۱۳۵۰
۵

کندهار

ولسی جرګی د دکتور عبدالظاهر د حکومت په خط مشی
او د دوی د کابینی د غړو په باب د څو ورځو
بحث او د وکیلانو د نظریاتو د څرګندولو
څخه وروسته د اسد په (۵) نیټه د اساسی
قانون د (۸۹) مادی په اساس د (۱۸۱)
موافقو رایو په مطلق اکثریت د
اعتماد رایه ورکړه

د نوی صدر اعظم د کابینې غړی

دوکتور عبدالصمد حامد
د صدر اعظم مرستیال

ستر جنرال خان محمد
د ملی دفاع وزیر

ښاغلی محمد موسی شفیق
د خارجه چارو وزیر

ښاغلی امان الله منصوری
د داخله وزیر

پوهندوی محمد نور ارغندیوال
د عدلیه وزیر

دوکتور غلام حیدر داور
د مالیې وزیر

ښاغلی حمیدالله عنایت سراج
د پوهنې وزیر



پوهنوال محمد عارف غوثی
د تجارت وزیر



ښاغلی خوازک خان
د فواید عامې وزیر

ښاغلی محمد ابراهیم عباسی
د اطلاعاتو او کلتور وزیر

انجینر نصرت الله ملکیار
د مخابراتو وزیر

پوهاند محمد ابراهیم
مجید سراج د روغتیا وزیر

انجینر لعلی
د کانو او صنایعو وزیر

ښاغلی عبدالحکیم
د کرهنې او اوبولګولو وزیر



دوکتور عبدالواحد سرابی
د پلان وزیر

میرمن شفیقه ضیائی
مشاوره وزیره

دوکتور عبدالوکیل
مشاور وزیر

پوهندوی عبدالستار سیرت
مشاور وزیر

د کندهار مجله

د امتیاز خاوند: د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
د مسؤل مدیر وکیل: غلام محی الدین (ایوبی)

کندهار

میاشتنی خپرونه

ادبی، تاریخی، اجتماعی، علمی

اداره: د شهیدانو واټ

د تاسیس کال ۱۳۳۹
د دولسم کال پنځمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۳۱

کالنی بیه

په کندهار کی [۲۸] افغانی

دهیواد په داخل کی [۳۲] ه

په د باندنیو هیوادو کی یو ډالر

د زمری میاشت
۱۳۵۰ لمریز کال

د ډګې ګڼې مضامین

مضمون	پاڼه
د مترقی ژوند او حقیقی نیک مرغی پر لور هڅه	۱ مخ
شعر څه شی دی او څه صفات لری ؟	۲ مخ
خواص او عوام	٤ مخ
انسانی ارزښتونه	۸ مخ
په لرغونو زمانو کی د افغانستان او منځنی آسیا	۹ مخ
نوی فلز	۱۲ مخ
ادبی برخه	۱٤ مخ
د کندهار لاسی صنایع	۱٦ مخ
ملا شاه پسند اخند	۱۷ مخ
که ټول خلک یو ډول وای	۱۸ مخ
د یوه فیلسوف غوره وینا	۲۰ مخ
زموږ پیریانی کور	۲۳ مخ
یادونه	۲۷ مخ
عصبیتوب	۳۰ مخ

دمترقی ژوند او حقیقی نیک مرغی

پر لور هڅه د هر پوه او عقلمند

انسان خاطره ده

دانړی د اسباب او وسایلو ځای دی، دلته انسان هر شی او هر مطلب د غوښتلو، په دغه لار کی د مجادلی کولو او وسایلو د په کار اچولو دلاری لاس ته راوستلی شی او هر څوك کولای شی چه د سختو مشکلاتو او لویو خنډونو سره سره په خپلو ستر و ملی هدفونو او اجتماعی مقصدونو کی بریالیتوب وکټی خو په دی شرط چه د خپل مطلب په لار کی پوهه، سنجش، او غوره تدبیر و سره ملګری کړی د کوشش

او پرله پسی فعالیت څخه کار واخلی او په دغه روحیه مخ به وړاندی ولاړ شی.

که څه هم د پوه او عقلمند انسان سره ارومرو دنیه او نیک مرغه ژوند هیله شته خو د عصر غوښتنی، شرایط او د زمانی ایجابات، انسانی

اړتیاوی، پوهنه، روزنه او اوسنی ساینس او تخنیکی کمالات د انسان پر افکار و او اعمالو زیاته اغیزه کوی، هغه دې ته رابولی چی په خپل فردی او اجتماعی ژوند کښی د نورو په ګټه اصلاحی تغیر راولی د ژوند پخوانی وسایل په نویو او عصری وسایلو بدل کړی او د نورو پر مخ تلو لو انسانانو په څیر د تحول او تکامل پر خوا رهی شی.

ځکه چی د نړی انسانان د بیلو بیلو عواملو له کبله پر بیلو بیلو هیوادونو او ملتونو ویشل شوی او د مختلف طرز تفکر او طرز عمل له کبله ئی ژوند تر خاصو اجتماعی، اقتصادی او سیاسی شرایطو لاندی راغلی دی نو نتیجه داشوه چی او س په خپل منځ کښی ځینی ګډ خویونه او همدارنګه ممیزه او خاص صفتونه لری او دغه مشترك خاصیتونه د نړی ټولو انسانانو ته که څه هم هر ډول اختلافونه سره ولری بیاهم د ملو وړدی په

داسی حال کښی چی د یوه هیواد ممیزه خویونه د هابل هیواد نه بیخی توپیر لری نو ځکه ئی ملتونه هم د بل هیواد خلك غاړه نه ږدی.

د مثال په ډول ویلای شو چی دین، ملی اخلاق، کلتور، ملیت، ادب او تاریخ د یوه هیواد د انسانانو ګډ معنوی میراث او ممیزه خویونه له جملی څخه دی او همدغه ستر لرغونی خویونه د مدنیت د عناصرو څخه شمیرل کیږی او د هر هیواد ملی او مدنی قوانین هم د همدغه

لرغونی معنوی میراث څخه سرچینه اخلی او د هغه په چوکاټ کښی د عصریت او عصری شرایطو سره سم د ژوند د سمون او ارتقا لپاره د ګډو بشری خاصیتونو لکه د ساینس، تخنیک او عملی پرمختګونو څخه ګټه اخستل او یا په دغه لار کښی تلاښ کول هم منی او یو ملت د بل

ملت د پوهانو او عالمانو د اختراعاتو او علمی اکتشافاتو څخه کار اخلی او د هغو په روڼا کښی خپل ملی او ولسی ژوند پر مخ بیائی.

دا ځکه چی زموږ اجتماعی دین اسلام، ملی کلتور، اخلاق او میت زموږ د مترقی ژوند، نیک مرغی، تحول او تکامل پر خوا دی او موږ د حقیقت رویه کولای شو چی یو اځی او یو اځی

د خپل دغه ګډ ملی میراث او معنوی پانګی په سیوری کښی پر مخ ولاړ شو او د خپل هیواد سالم انکشاف او د خپلو خلکو ذهنی تحول ته مستقیمه لاره خلاصه کړو.

لکه څرنګه چی موږ د مخه وویل اوس په نړی کښی انسانان بیل بیل افکار، جلا عقاید، ځان ته خاص کلتور، جغرافیائی موقعیت او ملی اخلاق لری او د ژوند کولو طرز ئی د یو بل

(پاته د پشتی په ۳ مخ کی)

شعر څه شی دی

او څه صفات لری؟

شعر داروپائیانو په نظر

دوی شعر پر درو دستو ویشلی دی:

۱- رزمی Epigue

۲- غنائی Lyrigue

۳- ډراماتیک.

غنایی:

هغه اشعار دی چی یونانیانو به دلیرمی دمعروف ساز سره ویل اودا اشعار دانسانی روحی احساساتو نمایندې، دپټو آلامو او دردونو مجسم کونکی اود بشر دخوشالیو اوغمونو څرګندونکی واسطه وه لکه د پانډر اشعار اود ژان ژاک روسو هوراس اثر او دلامارتین مرثیی.

رزمی:

هغه اشعار دی چی دقهرمانانو دکارنامو قصې بیانوی اود جنګی خلکو داخلاقو، میړانو اونورو صفاتو شرحه پکښی کیږی او کله کله داقهرمانان د فوق العاده انسانانو په شان ستایی لکه د (ایلیاډ) اود (اودیسه) یونانی شاعرانو رزمی اشعار اود (ایندویرژل) رزمی قصی اود (ډانټه) ایطالیائی شاعر د الهی کمیډی اود فرانسوی شاعر (رولاند) حماسه ئی بیتونه اود (میلیتون) ورک شوی بهشت.

ډراماتیک:

بدې کښی ټول هغه اشعار شامل دی چی د نمایش په صحنه کښی ویل کیږی کله د کومیډی په شکل او کله د تراژیدی په توګه چی ژړونکی او خنده آوره وی او یا کله (میلوډرام) او بیا کله د (هجائی) پنامه وی.

نور انواع هم لری چی هغه ته وصفی، آموزشی او کلیوالی اشعار وایی او لنډی لنډی منظومی قصی هم پکښی شاملی دی.

دشعر سره لازم علوم:

۱- عروض.

۲- بلاغت.

۲- د معانی علم.

٤- د بیان علم.

٥- د بدیع علم.

٦- قافیه.

۷- چکامه.

۸- دمحاضراتو علم.

۹- د انساب علم.

۱۰- وضاحت.

۱۱- د منطق علم.

عروض:

د عروضو علم د اشعارو د وزن بحث کوی او عروض ئې هم ددغه جهته بولی چی اشعار پر عرضیږی.

د عروضو دعلماؤ څخه چی عروض ئې تالیف کړیدی ابوالحسن علی بهرامی سرخسی ابوسعید احمد بن محمد منشوری سمرقندی او مشهور کتب ئی المعجم فی اشعار العجم او شمس قیس رازی کتاب ئی حدایق السحر فی دقایق الشعر او طوط دی.

بلاغت:

هر رسا کلام ته بلیغ، او علم ته ئی بلاغت ویل کیږی او علوموته ئی دمعانی علم د بیان علم د بدیع علم اود عروضو د قافیی علم ویل کیږی.

دمعانی علم:

هغه کلام ته ویل کیږی چی د حال او مقام په اقتضاء ویل کیږی او موضوعات ئی عبارت له:

ایجاز، اطناب، مساوات، اسناد، قصر، انشاء او حل وفصل څخه دی.

د بیان علم:

په لغت کښې د کشف او توزیح په معنی په اصطلاح کښې دهغه قواعدو له مجموعې څخه عبارت دی چې د یو شی معنی په ډیرو لارو، طریقو، قسم قسم الفاظو شرح او بیان شی او موضوعات ئې مجاز، استعاره، کنایه او دغه ډول نور دی.

بدیع:

کلام او خبرو ته زینت او آرایش ورکول دی، چې د دغه علم په واسطه دیوه بلیغ کلام محسنات پیژندل کیږی، او صنایع ئې عبارت له لفظی او معنوی صنایعو څخه چې د نظم او نثر و ترمنځ مشترك دي.

لفظی صنایع لکه: تشجیع، ترجیع، لف، نشر، تجنیس، تضمین، ردالعجز علی صدر، ردالصدر علی العجز، موشح، ملون.

معنوی صنایع لکه: تشبیه، استعاره، کنایه، مجاز، ایهام، مطابقه مراعات نظیر، براعت استهلال، حسن طلب، اغراق، تمثیل، حسن مطلع حسن مقطع، لغز، معما.

قافیه:

د شعر په اصطلاح کښې د بیاتو آخری حرف ته ویل کیږی چې اصلی او آخری حرف د ټولو یو حرف وی.

چکامه یا جامه:

د پهلوانانو د شرح حال، د جنګ د ډګر اوصاف، د عشقی او رزمی داستانو او قصو څخه عبارت دی.

د محاضراتو علم:

په لغت کښې د محاورې او د حاضر جوابی په معنی او په اصطلاح کښې هغو اشعارو ته ویل کیږی چې شاعر ئې د یو چا د مقام او منزلت په مناسبت وایی.

د انشا یو علم:

یو داسی علم دی چې دهغه په واسطه د خپلوانو او قبایلو ترمنځ روابط پیژندل کیږی مګر په دې ډول سره چې د هری دشتی او د نژاد اصول او فروع یو د بله انفکاك ومومی.

فصاحت:

که څوك یو کلام روښانه ادا کړی چې مستمع دهغو خبرو د ټولو شیانو صحیح درك وکړای شی او ښه په وپوهیږی دغه کلام ته فصیح کلام او علم ته ئې د فصاحت علم ویل کیږی.

د منطق علم:

دا داسی یو علم دی چې د دې علم په کار اچولو سره د خطا او ښوئیدلو څخه اندیښنه راګرځی عربو د منطقو په تعریف کښې ویلی دی (المنطق الة قانونیة تعصم بها عن الخطاء فی الفکر) د دې علم لومړنی واضع ارسطو و دا علم ئې د عقل ترازو او د فلسفی مقیاس باله.

منطق د ډیرو مختلفو رشتو د لونګی دی لکه نظری یا غریزی منطق، صناعی یا استدلالی منطق، عملی منطق، متدولوژی او د ریاضی منطق چې د ریاضی قواعدو څخه بحث کوی.

دا وه د شعر پر موضوعاتو باندی یو څه معلومات چې پښتو ترجمه ئې ستاسی د معلوماتو د پاره پورته ولیکل سوه سره د ټولو معلوماتو چې شاعر لره پکار دی چې د شعر ویلو په وخت کښې پر دغو باندی یو څه علمیت واری.

شعر باید د موسیقی په پردو باندی چې او ه پردې دی تطبیق سی او هغه او ه پردې دا دی:

(سا، ری، ګه، مه، په، ده، نی) او چپه ئې (سا، نی، ده، په، مه، ګه، ری).

که هر څومره د یو شعر په جوړولو کښې ډیر زحمت وخیږی او تر یو حده پوری پر قواعدو او اصولو باندی بنا وی هغه وخت موږ هغه شعر ته خوږ شعر او

(نور په ۸ مخ کښې)

د مولینا «حبیبی» په قلم:

خواص او عوام

موږ تصمیم لرو چه ورو ورو سته له دی تر دغه پورتنی عنوان لاندی د خواصو او عوامو، عادات او رسوم څه ډول چه دوی په معتاد دی، په مختلفو موضوع ګانو کی، چه د خوند او تلذذ څخه خالی نه وی د کندهار په مجله کی چاپ کړو.

دا موضوعات، البته ډیر متنوع متفنن، او ډیر نوی دی او ممکن دیوه لطافت سره وی زموږ عرف، او عادت، زموږ کلچر، زموږ کلتور، او زموږ کرکټر، زموږ اعمال، په علمی او ثقافتی او ډول ډول پردو کی دلته ښاغلو لوستونکو ته وړاندی کیږی:

په دی کښی زموږ غرض دادی چه دا ذهن نشین کو او په تیره بیا په یادئی راوړو، چه موږ ددی شپو او ورځو په جریان کی متحول یو، او که بی تحوله، زموږ حرکت او نهضت چټک دی که بطی موږ اکتشاف کړی دی، موږ وړاندی تللی یو او که یه؟

اخیر از موږ حیاتی او اجتماعی سیر مخ پر صحت او ښه والی دی او که څنګه؟

موږ د سیاسی شعور په موقف کښی ګام ایښی دی. او که الانه کما کانه یا ته یو؟

موږ د زمانی، د بیښو سره مجادل یو، او په ژوندی پیکر سره نیرومند او مجهز یو، او که دا جذبه په موږ کښی لا نه ده پاریدلی؟

زموږ اجتماعی ژوند، که هر څونه په ډیرو پردو کښی پټ دی خو د خواصو او عوامو دغه دوی جامعی پردی د ټولو آئینه داری او تبیین کوی

اوس په اثر ددی یادونی د باره د خواصو او عوامو تر عنوان لاندی مختلف موضوعات په ډیر دلچسپ او دلپذیر صورت سره مطالعه کولای سی.

له دی جهته چی دا عنوان یو څه دوامداره، او مسلسل دی. نو هیله کوو چی محترم لوستونکی د مجلی په پاڼو کښی د خواصو او عوامو په خاصیاتو پسی هم وګرزی، او په دی خصوص کښی خپل اجتماعی معلومات تکمیل کړی.

خواص او عوام:

د خواصو او عوامو توجه د خپل ژوند په روزنه کښی په تیره بیا روزنه د انسان خواص څنګه کوی، او عوام ئی څه ډول؟ عوام په دی طبیعی ژوند کښی څه ډول چی د غواړی ټوله عناصر باید و روزل شی او تر یوه انتظام لاندی و پالی نو دلته موږ د دوی په ژوند کښی د ټولو د ژوندانه د عناصرو د روزنی څخه د دوی د خواصو څخه صرف نظر کوو یوازی جنس د انسان په دوی کښی د روزنی د کبله یو څه سپړو عوامو ته ممکن د طبیعی عالم عناصر هم ښه نوی معلوم او په دی هم البته ښائی نه وی بوه چی طبیعی عناصر څنګه روزل کیږی په تیره بیا چی د انسان روزنه څنګه کیږی؟.

عوام پر ته له نورو عناصرو څخه په واقعی او علمی ډول په روزنه د انسان بیخی نه پوهیږی بلکی دوی د اسی پوهیږی لکه نور ژوی (حیوانات) چی څه ډول وخوری، وچښی او واغوندی نو روزل کیږی حال دا چی انسان له حیوان څخه په ډیرو درجو جلا او بل شی دی.

ځانته خوړک، چښنګ، آغوستنګ او نورلری او روزنه د ده هم له حیوان څخه دونه فاصله منځ ته راولی لکه د مځکی او آسمان تر منځ چی فاصله وجود لری عوام څه وخت چی یو انسان وخوری، وچښی او واغوندی دوی قانع کیږی چی دغه انسان و روزل شو او حال دا چی دا ډول خو حیوان هم تل روزل کیږی نو ولی بیا هم له انسان څخه ډیر جلا او متفاوت دی؟

ځکه نو د انسان روزنه یو بل کار دی چی عوام الانه دی په بوه او که چیری دوی پوهیدلای نو به د انسان روزنه دوی د اسی نه کوله لکه د حیوان؟

عوام د انسان په روزنه کښی یوازی د حیوانی روزنی تابع دی دوی د انسان اخلاقیت (مورالستی) حقیقت پسندی (ریالیستی) او خیال پروری (ایدیالیستی) ته هیڅ نه ملتفت کیږی، که انسان په رشتیا د دغو شیانو له حیثه

ونه روزل شي پر هغه به د انسان اطلاق څه ډول وشي .

او دي هم کله د انسان په ډول کار کولای شي ؛ که چیری انسان له دي درو حالتو څخه وتلی وي

انسان نه ورته ویل کیږي او دده اکټ (تمثیل) هم له انسان څخه دوباره باید ونه شي .

دا ځکه د منطقو په اصطلاح انسان هغه چا ته وائي چي د هغه قوت درلوونکي وي چي کلیات او جزئیات درک کړای شي ، او په علمي قانون همدغه قوت ته نفس

ناطقه ویل کیږي ځینی خلک داسي گمان کوي چي دا قوت د انسان تکلم بلل کیږي ځکه چي تکلم دده او حیوان ترمنځ یو فصل دي دا ځکه چي فصل یوه خاصه ده

چي په ماهیت کښي داخله ده او بې له یوي نوي نوعي په نورو نوعو کښي قطعي نه پیدا کیږي ، که څه

هم ټوله حیونات چي موږ ئي نه شو حسولای یو ډول خبري او مفاهمي سره کوي چي د هغو

اصواتو او زموږ د تکلم ترمنځ په حقیقت کښي غیر له مفاهمي څخه په مخصوصه اصواتو سره بل فرق نه لیدل کیږي .

عوام دغه قوت چي د شیانو کلیات او جزئیات باید په وپیژني په کرټه ئي نه پیژني او روزنه ئي هم نه شي کولای او څه وخت چي

انسان دا معرفت او دا قوت ونلري څله باید انسان و بلل شي ؛ بل عیب خو دا دي چي عوام که څه هم دا معرفت تل ونلري ، ښائي لکه

حیوان نو رنه شي ملتفت چي د دوی ژوند انساني غوندي تیریږي او که د حیوان په ډول ؛ عوام په دي هم نه پوهیږي چي انسان او حیوان (د کلي او جزئي) د پیژندني د قوت په فارقه څو نه سره جلا شو ؟

او په داسي حال کښي چي د دې قوت او فارقي موجودیت او مرکزیت هم په انسان کښي موروثي او جبلي دي او که څوک د خپل وراثت او جبلیت معرفت او پیروي ونکړای شي هغه ته کله انسان ویل کیږي ؟

حضرت میر احمد المجد دي متخلص په (اظهر) دا مدعا داسي ثابتوي :

هر که از کیش پدر بیرون نیاید عاقبت
ملک موروثي بعقبي باغ جنت میخورد

هر که از شهر مناهي او بهر در رو نهد
از وطن خارج بهر جا ضرب عزت میخورد

عوام هر کله چي انسان په خپل انسانیت عالم او عارف نه وي هغه هم په دوي کښي انسان بلل کیږي او په تیره د یوه ژوندي انسان نسبت ورته کیږي او له دې څخه بې خبره دي چي شاعر ویلي دي :

هر که او عارف نباشد زنده نیست
قرب حق را لایق وار زنده نیست

عوام ممکن هر چا ته انسان ووایي ځکه دوي د انسان مفهوم

لکه چي دا بولي چي دي هم لکه حیوان دغه خورک او چښنگ کوي ؛

او د انسان دې ډول مفهوم ته د خوشحال دا نسبت کوي :

زه به ورته نه وایم سړي چي تش کالبد وي . عوام نه یوازي یو ډول دي چي دوي د هر شي روزنه نه شي کولای بلکه دوي د مخه له روزني څخه د سړي ، سړیتوب او ناسړي توت هم نه تر له پیژني ، او د دې فارمول څخه خو په خپله معلومیږي چي

د دوي د پاره روزنه (تربیه) خو یو بل بیل کار دي .

د عوامو سړي یوازي هغه څوک ښائي چي وي چي د دوي له خوا سړي بلل سوي وي بل څوک که چیري د دوي سړي سړي ونه بولي ، هغه هغه څوک

دې البته چي په تش نامه د سړي نه خطا وزي په تیره بیا دې ته اړیږي چي په رشتیا سړي توب هم وغواړي او د خپلو شرایطو سره سم .

ناسړي د دوي هم هغه څوک دي چي یوازي دوي ناسړي بللې که څه هم د نورو د خوا مطلق مظلوم ، عاجز او بیچاره و بلل شي ، د عوامو دي انتخاب ته چي څوک د سړي او ناسړي په باره کښي یو څه وگوري ور معلومیږي چي

د عوامو روزنه هم د انسان په حق کي ډیره نیمگړي او خارج نظر او با بیز ده او دلته د انسان د روزني په هکله دغه انسان باید سړي و شمیرل شي ، د دوي عادت دا دي چي یاد شو ، دا ځکه چي

هر څوک هم د خپل عادت پیروي کوي اعم که عادت ښه وي او که بد :

خوشحال خان بیا داسي وائي :

هر خسیس په خساست کښي خپل عادت کي په عوامو کښي که چیري په حقیقت سره سړي یعني روزلي انسان پیدا شي دونه قدر

او قیمت لری چی عوام حتی خپل ځانونه ترهغه پوری هیڅوک نه بولی، او ورته تسلیمیږی او دا استخدام یو افتخار بولی اوس

دغه قدرؤ قیمت هم پخپله په عوامو کښی پیدا شو ځکه ویل شویدی چی خواږه ولی قدر من دی ؟

خوشحال وایی :

که تر وه او تر خه نه وای په جهان کی د خوږو په قدر به څوک وای پوهیدلی

که چیری عوامو هم لکه هغه سړی، سړیتوب درلودای، نو په دوی کښی یو سړی کله معلومیدی ؟ چی د دوی دخوا په ټولو وټاکل شی.

عوام پدې ځای کښی هم د خپله حاله څخه دونه ناخبره پاته دی چی پخپله د دوی موجودیت معلومداره د سړی قدرؤ قیمت

ثابتوی او د قدرؤ قیمت اثبات هم دیو شی په ضد ثابتیږی .

عجبه خوداده چی عوام پخپله د هرشی د روزنی په قانون نه پوهیږی لیکن روزلی شی یا روزلی

انسان ژر پیژنی او په لوړه سترګه هم ورته ګوری او د خپله ځانه څخه ئی ډیر لوړ او پورته هم بولی .

که چیری څوک ووایی چی داولی ؟

ویلای شو چی دوی روزنه او قانون ئی منی او که د روزنی د قانون پالنه او عملیات له دوی څخه وغوښتل شی هغه وخت دوی

پدې پالنه او عملیاتو نپوهیږی نو خود موږ دوی داسی ونمانځل چی دوی ګواکی په روزنه نپوهیږی.

په عوامو کښی له دغه کبله روزلی انسان ډیرلږ لیدل کیږی نو روزلی انسان په دوی کښی تل د ډیر مقدس، پیر،

مشر، ملا، مقتدی او رهنما حکم لری او ټوله ئی پیروان کیږی هم او په خوله ئی هم کوی او د هغه دامر او هدایت څخه هیڅ نه چپیږی.

په عوامو کښی که یو څوک د دوی په پوهی یو څه فاضل و بلل شو سمدستی د دوی دخوا په قدسیت سره منل کیږی او د دوی مقتدا کیدلای شی.

حتی دوی ئی سمدستی پیروی کوی او پدې هم نپوهیږی چی دوی ته د دې سړی یو ډیرلږ فضیلت دونه زیات

ښکاره شو لکه بشپړ چی وی نو پدې سره خو هم داسړی د دوی په اعتقاد او د دوی په وینا داسی مقدس، داسی پیر

داسی ملاونه بلل شو چی دوی دی دونه ورته معتقد شی چی د پیرۍ او ولایت په درجه کښی ئی راولی .

پدې ځای کښی د عوامو دې ته هیڅ فکر شوی نه دی څو چی اغلب داسی لیدل شویدی چی د یو سوچ پوچ کافر په یو څو صنعتکار یو او جعلی خبرو خطا

وتلی او په خوله ئی کړیدی هغه وخت چی بیرته پوهیدلی دی ډیر متحیر شوی او ډیره خواشینی ئی څرګنده کړیده او عوام لدې سببه تل دیو ډول لویو او

درنو خطراتو سره مخامخ دی دا ځکه چی په دوی کښی یو لږ فضیلت د پیر، ولی او مقدس درجه ژر پیدا کولای شی.

حال دا چی دا خو د دوی یوه لویه اشتباه ده او بیا کله داسی کیږی ؟

که چیری یو ولایت یا قدسیت او غوثیت په لږ څه او معمولی ډول حاصلیدای نو اوس به هر څوک د دغو مرتبو او مقاماتو په

لږ کښی بلل کیدای نو څله یو ولی یا غوث لکه خورده یا «عنقا» غوندی غواړو او نه ئی مومو

او د عوامو د سطحی عقایدو او عواطفو څخه که دوی وغواړی ژر ولی او غوث راوزی، او دوی هغه ژر منی، او د واقعیت او باور مورد ئی هم بولی .

بلعکس د خواصو عقاید او نظریات هیڅکله دونه ساده او سطحی نه دی چی پداسی لږ څه قانع شی یا غاړه په وباسی بلکی دا ډول اقرار کوی :

په یرع په مصلحت د عشق کار نه دی په لیدل په ارویدل شی را پیدا عوام د لږ فضیلت په منلو کښی هم دا جنبه نلری چی د نقادۍ وړ دی

نه وی بلکی پدی ویلو کښی دوی نه سره قیاسیږی .

«چی ګل غواړم له تا نه ستا د باغه د بوستانه»

«که خس را عنایت کړې هم په ګل نیولی ما»

دا دوې جملی که څه هم په خپل محل او مفهوم کښی ډیری معقولی او رشتیا دی لیکن عوام کله د

یوه لږ فضیلت په مثبتی اثبات کښی داسی حق لری چی دونه معتقد او داسی قائل شی ؟

پدې مورد کښی باید متقابل وضعیت ته ملتفت شی، بیا نو هغو نه مننه وشی او په هغه ځای کښی

چی دوي لپ شی ډیر وباله او یائی ډیر عوض کانه سبب ئې دادي چی په لږ سره ئی قناعت وکی او دلته خو دالږ بوداسی لږ او بودی چی دلوي او ډیر یامساوی په ستر ګه نه ورته کتل کیږی .

عوام ګکه چی طبیعی ناروزلی بلل کیږی او داهم بوه طبیعی خبره ده چی ناروزلی نسبت روزلی ته په روزنه نه پوهیږی انسان هم ګه وخت چی وروزل شی دعوامو ګخه به وزی، بیا به نو روزل کیږی ولی په دي چی په دوی کښی دونه دروزنی قانون نشته تر اوسه چی انسان روزنی ته رادعوت شوی دی دعوامو ګخه جلا شوی بیا ددوی روزنی امکان پیدا کیږی دی که ګه هم دعوامو دروزنی قانون نه دی زده او نسی کولای چی په دي قانون سره کار وکړی لیکن روزلی انسان ئې ډیر خوش او ددوی مثلی دی داهم په دي نسبت چی دوی هم د روزنی ته مستعد بلل کیږی او دروزنی دقبول استعداد په دوی کښی شته او د قدرتی نامساعدت او ملګری ګخه بیرته ناروزلی پاتیږی .

اوس که چیری وغواړی چی دوی باید وروزل شی نو دروزنی قدرت باید په دوی کښی اول پیدا کړه شی بیا نو وګوری چی دوی هم دروزنی وړ دی او که یه :

ددوي ګخه روزنه نه غوښتل کیږی دوی باید روزنه وغواړی که چیری دوی پخپله روزنه و غواړی ددوی استعداد نسبت هغه چا ته ډیر بلل کیږي چی نه روزنه پیژنی او نه ئې غواړی په عوامو کښی که وغوښتل شی چی روزنه پالل شوی او رواج شی باید نور روزلی خلک په کار شی ګکه دوی خو خو را ډیر مقلدین دی نو ددي طبیعت په اثر ضرور دروزل شو یو خلکو ګخه دروزنی چمو نه زده کوی او کرار کرار لکه هغه روزلی خلک دوی هم روزل کیږی .

لکه اوس ددي لپاره چی موږ زیاتره عوام بلل کیږو او د بل او خپل ځان په روزنه نه پوهیږو او دا راګخه غوښتل کیږی چی قوله وروزل شو نو دیو ځو روزل شو یو شته والی انسانان که ګه هم پردی وی دلته به موږ کی لازم و بلل شو .

او کیږی چی دغه فارمول مثبته نتیجه هم ورکړی او په هغه ژوند چی موږ دلته نه پوهیږو ممکن له دوی ګخه ئې زده کو او خپل ژوند پس له دي داډول وساتو او وئی روزو لکه نو رو چی روزلی او ساتلی دی .

ګکه چی انسان خپل ځان په بل کښی ژر پیدا کولای شی . او په خپل ځان کی دغه خپل ځان لیدلای شی حال دا چی دي ته خو لیدل نه وای او که چیری بل و وینی هغه وخت چی خپل ځان ورته معلوم شی دی ته لیدل الپته و بل کیږی

ګکه خپل ځان ئې د بل په نسبت ښه ولیدي او ور معلومه شوه چی دی پخپله څنګه دی ، په تیره روزلی دی که ناروزلی ، ښه دي او که بد ، او په عکس ددي که دي ښه وي او که بد نو ده ته بایدګه فرق ونه لری . ولی چی قاعده ده .

نو دا جوته شوه چی دوی خو دروزنی به هیڅ ډول نه پوهیږی او که د خپل ځان نه سره پاته شی دوي باید دوباره کوم معرفت ونه لري چی دغه خپل ځان دیوه بلوه و پیژند لای شی او که یو اړی د ځان پیژندنه لا ددوی دوسه نه وی بوره سوی ، نو روزنه به په خپل ځان کښی د کومی خوا معلومه کړی چی څنګه ده ؟

او په تیره بیا ګه به معلومه کړی چی دي پخپله څه او څوک دی ؟ او په حقیقت کښی انسان د خپل روح او وجدان له کبله که ګه هم هیڅ شعور ونلری ، خو په طبیعی ډول یو ډول حساس ، یو ډول دراک ، یو ډول سمیع او بصیر دی . چی تل د خپل ځان ګخه داسی الهام اخلی .

« هم حیوان ئې هم سړی یی هم ملک »
« که ته ښه په ځان خبر شی له حسابه »

افکار

هغه چی د انسانیت د ابادی په نامه د فعالیت میدان ته غوړځی او قول ئی د عمل سره برابر وی هغه باید د اجتماع ژره و بلل شی .

[ژانیتن]

ژوند پر له پسی حرکت دی هغه څوک چی به بې معنا تسلاؤ د حرکت ګخه پاتیږی هغه باید ډوډی خواره مړه و بولو .

[بارتل]

د (کریمی اڅکزی) لیکنه:

انسانی ارزشونه

یو د روح پوهانو څخه د انسانی ارزش په باره کښی وایی:

موږ قوانینو ته د لزوم تر اندازې زیات اهمیت ورکوو خو انسان او د هغه انسانی ارزښتو ته لږ څه توجه کوو.

یو د روانشناسانو څخه عقیده لری:

د انسان خارجی شخصیت د هغه په طرز تفکر او غوښتنی پوری اړه لری

هر څوك هر ډول چی فکر کوی هغه ډول رفتار کوی او په بل عبارت غوښتل او کول دی.

یو بل د روح پوهانو څخه وایی:

ژوند پر ته د نزاع، متمادی کشمکش او مجادلې څخه بل شی نه دی او هر پر مختګ د فکر او جسم د زحماتو نتیجه ده.

وایی یو فرانسوی عسکر په خپله کوټه کښی قدم واهه او ویل ئې:

زه باید مارشال سم.

دده د غوښتنی لومړی اثر داؤ چی هر راز مشکل ئی زغمی او د امکان تر حده پوری ئی زیار کیښ او فعالیت ئی کاوه تر څو وروسته تر ډیرو زیار ګاللو او خوار یو څخه د مارشالی آرزو ته ورسید.

د ارادې قوه ډیره لویه نیرو ده چی هر کار په آسانی سره سر ته رسوی.

انسان چی د هر څه اراده وکړی د یوه عزم په نیولو سره خپل هدف ته رسیږی.

ناپلیون بنا رپات عقیده درلوده چی:

د (نې) کلمه د انسان په سر کښی نشته که ئی خپله جوړه نه کړی زما د نه کیږی نه ئې

سم کولای څخه ډیر بد راځی او وایی دغه راز کلمات باید د لغات د قاموس څخه حذف شی.

هر څوان درلوونکی د خاص غرور او ارادې دی چی دده سره د ژوند په تحریك او ابتکار کښی مرسته کوی ګرمه روحیه نشاط ورکوی، خستګی څنی لیری کوی.

د هر ډول خستګی او شکست په مقابل کښی نه مایوس کیږی او په خپل قوی اراده ژوند مخ ته بیایی.

(د ٤ مخپاته)

شعر څه شی دی او څه صفات لری؟

تاثیر ناکه شعر وایو چی موسیقی پوهان هغه شعر بی له تکلیفه د سازو سره پر یو مقام او خیال باندی ویلای سی او که چیری د موسیقیدانانو له خوا تردید شی نو دی

به و پوهیږی چی په شعر کښی کومه سکته ګی او بی وزنی یا غلطی شته.

د پخوانیو لوړو شاعرانو شعرونه ټول پر موسیقی باندی تطبیقیږی او ټوله لوړ موسیقیدانان همیشه د لوړو شاعرانو شعرونه له سازو سره وایی ځکه چی یو خو د موسیقی له پردو سره په هوسائی تطبیقیږی او بل

دا چی لفظی ترکیب ئې د شعر بر اصولو باندی جوړ شوی وی او هم ئی معنوی معنی او صفات ډیر لوړ او د قدر وړ وی.

لکه د مخه چی ما وویل ښه شعر پر اوریدونکو باندی ښه اغیزه کوی او تر تاثیر لاندی راولی چی تر ډیرو وختو پوری ئی د اوریدونکو په دماغ کښی خوند

او لذت پاته وی لکه طبیعی ګلان چی ذاتی عطر او رنګ لری نور شعرونه چی په زرها و ویل کیږی د شعر د قانون

له نه مراعات کولو څخه چی د بعضو شعراؤ له خوا توجه نه کیږی پر کاغذو باندی بی خونده پاته کیږی نو

پر شاعر باندی لازم دی چی یو لږ څه پدې مهمه موضوع کښی توجه وکړی چی شعر ئی هم په ظاهری شکل

صحیح ویل شوی او هم په معنوی صورت د لوړو صفاتو خاوند وی.

(پای)

ژباړونکی: دکتور ګل محمد نورزی

په لرغونو زمانو کی د افغانستان او منځنی آسیا کلتوری روابط

هغه خلک چی یو وخت په لرغونی افغانستان کښی اوسیدل د دوی د تاریخی سرنوشت په باره کښی زموږ معلومات ډیر لږ وخت پخوا تر دریمه قبل المیلاد یعنی دیونان، باختری دولت د جوړیدو تر وخته پوری رسیدل، دغه لرغونی زمانی یعنی د ډبرو او فلز لومړی دوری زموږ لپاره بالکل په تیاره کښی وی. په وروستیو لسو کلونو کښی کوم ځلاند ارکیالوژیکی کشفیات چی د شوروی اتحاد د منځنی آسیا او افغانستان په برخه کی شوی دی پدې دوروښه روڼا اچوی. د دې سیمو د خلکو تاریخ اوس کیدای شی چی په خپله د تاریخ په سرچینو کښی ولټول شی. په لرغونو زمانو کښی د دې سیمو ارت کلتوری روابط او اکثره د تاریخی سرنوشتونو یووالی چی دوی سره یو ځای کوی د زیاتی علاقی وړ دی. په ډیره پخوانی زمانه کښی منځنی آسیا ته د انسان پښه راغلی او هلته میشته شوی ؤ د وخشن سند د قزل کلا کلی کشف شوی آثار کیدای شی چی د شیلک لومړی دوری حتی لا زیات لرغونی وخت ته منسوب شی. د ترکمنستان د کرسناو د کس په شبه جزیره کی راغونډ شوی افزار په شیلک دوری [۱] پوری مربوطیږی دغه درشت لاسی افزار چی په کرسناو د کس کښی پیدا شوی او د پالیولیت لومړی دوری ته منسوب دی د مدیترانی د همدې دوری کلتور سره پوره شباهت لری.

تقریباً د همدې دوری افزار ولی بالکل په بل ډول په تیان شان، د اورچ سند په وادی، د کوچنی کار اتاوو (جنوبی قزاکستان) په یوه سلسله نورو ځایونو کښی پیدا شوی دی. او دغه په جنوبی شرقی آسیا کښی زښت ډیر دی. د دې مختلف الانواعو کلتورو متقابله روابط ډیره زیاته علمی دلچسپی لری، د دې متقابله روابطو د پوهیدو لپاره هغه د لرغون پیژندنی صحرائی تحقیقات چی په منځنی سیمی خصوصاً په افغانستان کښی باید تر سره شی ډیر زیات به ګټور وی په تاجکستان ترکمنستان او ازبکستان کی هغه یو څو لس ګونی مجسمی چی لاس ته راغلی دی د ډبرو ډیر پخوانی عصر یعنی منځنی پالیولیت دوری پوری اړه لری.

د دې دوری نسبتاً روښانه کشفیات چی جهانی شهرت ئی ګټلی دی د افغانستان او شوروی اتحاد سرحد ته نژدی د تورګان دریاوادی د تیشیک تاش په مغاره کی شوی دی. د مغاری قشر په رسوب کښی پنځه کلتوری طبقی پیدا شوی چی په هغه کښی موستیر [۲] فورمه چکماکی افزار د سابیریا د غرنی وزګړی، هوسی خرس هډوکی او اور نښانی پکښی ظاهری شویدی دی.

په تیشیک تاش کښی د موستیر دوری د هلک جسد منحصر به فرد یو اثر دی. دغه تدفین شوی جسد په مدنی (کلتوری) قشر کی پیدا شوی دی. دغه جسد په تصادفی صورت نه بلکه په تشریفاتی مراسمو سره خښ شوی دی.

د دې خبری له پاره پخپله د غرنی وزګړی ښکرونه چی د مړی نه راتاو شویدی شاهدی ورکوی.

د موستیر دوری کلتوری روښانه تحقیق په تیشیک تاش، شمالی افغانستان او د قره کمر مغاری په لاندنی طبقی

---

[۱] شیلکی کلتور د ډبری عصر د ارکیالوژیکی کلتور لرغونی دوره ده شیل په فرانسه کښی د یو وړ کوټی ښار نوم دی. څنګه چی د دې کلتور مرکز دی ښار ته نژدې ؤ، نو د هغه ښار په نوم ئی شهرت وموند.

[۲] موستیر د ډبرو عصر منځنی وخت ارکیالوژیکی کلتور دی. دا هغه وخت ډی چی یو روپ لایخ (منجمد) دی او په فرانسه کښی د موستی غار ته منسوب دی چی د دغه وخت د یوه انسان تیپ پکښی وموندل شو.

کښې هم کشف شویدی .

دمنځنی آسیا پاسینی پالیولیت(۳) ډیره نیمګړی مطالعه شویدی.

په تاجکستان کښې د خوجې غور شمالی افغانستان کښې د قره کمر په ایران کښې د خوتو کلکسیونونه په عمومی طور یو بل ته نژدې او دمنځنی ختیځ د پالیولیت دورې رانژدې برخې کلتور سره حتی مشابه خصوصیات لری .

دمیزولیت دورې مجسمی د منځنی آسیا، منځنی ختیځ د زراعتی کلتور ترلرغونی پیدایښت تاریخی وړاندی-والی لری، نو له دې کبله ددوی تحقیق هم خاص ارزښت لری.

د ترکمنستان د میزولیت دوره پوره تحقیق شویده د جبیل، دم دم چشمی او کایلیو په مغارو کښې د کوچنیو چکماکی افزارو، هندسی رسمونو لوی کلکسیونونه ټول شویدی.

دحیواناتو، ماهیانو د هډوکو زیاته اندازه موږ دې نتیجې ته رسوی چې ووایو پدې دوره کښې اساسی پیشه ښکار او ماهی ګیری وه .

ددې ابتدائی ریښو موندنه دا ښئی چې ټولنی مخ په زیاتیدو وی.

دمیزولیت دورې د انسان کلتور ددوی اقتصادی ژوند او مذهبی تصوراتو د پوهیدلو لپاره هغه تصویرونه چې دوی په ډبرو رسم کړی

او د جنوبی ازبکستان د راروت سامی په وادی کښې کشف شویدی ډیر زیات ارزش لری .

درسمونو زښت ډیر ګروپونه په ریالستکی توګه د غوځکیو ګلی د غرنیو وزورمی او ښکار-ځن دلیندو سره ترسیموی .

په اکثرو تصویرونو کښې د ښکاری د ښکار صحنه تمثیل شویده داسی ښکاری چې تصویرونو ئی افسانوی معنی درلودله .

دمیزولیت دورې کلکسیونونه چې دقمره کمر او ګاری مار څخه لاس ته راغلی دی، ددې زیری راکوی چې ددې دورې د کلتور څیړنه به په افغانستان کښې ښه نتیجه ورکړی د افغانستان دډبری دوره لا تراوسه ښه نده تحقیق شوی ولی بیا هم زموږ سره پدې باره کښې داسی مواد شته چې د هغو له مخی د افغانستان او منځنی آسیا ترمنځ د جغرافیوی شرایطو شباهت لیدل کیږی .

محیطی نژدیوالی موږ ته دا امکان راکوی چې ووایو دډبری په دوره کښې ددې سیمو کلتوری پرمختګ یو بل ته په نژدې لارو انکشاف کاوه .

په راتلونکو دورو کښې د افغانستان او منځنی آسیا تاریخی روابط کیدای شی د زیاتو روښانو او ډیرو موادو په رڼا کښې وڅیړل شی .

دهغو ټولو زیاتو شواهدو څخه چې ددې سیمی د خلکو د نژدیوالی په باره کښې موجود دی قصداً څنګ کوو او دغه نژدیوالی دځینو نوو معلوماتو په اساس ښیو، لږ تر لږه دځلور زرم کال قبل المیلاد د شروع نه تقریباً په ټول لرغونی ختیځ کښې دلاجوردو مصنوعات په جنوبی ترکمنستان، ایران او بین النهرین کښې خپاره شوی، اما یوازنی معدنونه ئی چې تراوسه معلوم دی هغه د افغانستان په شمال ختیځ بدخشان کښې دی .

تردې چې په سومیری حماسه کښې دیوه غرنی هیواد اراتی په باره کښې روایت راغلی دی (ممکن دا هیواد د افغانستان په شمال کښې واقع وی) چې دهغه هیواد اوسیدونکو د نورو موادو په څنګ کښې لاجورد هم استحصالول.

هغه لاجوردی تزئینات چې په منځنی آسیا کښې پیدا شویدی هم د بدخشانی لاجوردو څخه جوړ شویدی.

د څلور زرم کال قبل المیلاد په دوهمه نیمائی کښې د مثال په توګه په بلوچستان کښې د قلعه ګل محمد کلی چې د کویټی ښار ته نژدې واقع دی او په افغانستان کښې دموندیګک، دیمو راسی کلی چې د کندهار ښار سره نژدې دی په کښت او کرنه پیل کوی، دا کلی تر نورو نسبتاً زیات مشهور او تاریخی قدامت ښئی .

پدې ترتیب سره دمیزولیت دورې ښکاریانو، ماهیګیرانو مشهور آثار د افغانستان په شمال کښې واقع شویدی ولی په همدغه وخت کښې د هیواد په جنوب کښې ابتدائی زراعتی قصبی منځ ته راځی، دغه سیمی تریوه حده تاریخی او کلتوری پریکړه له دې درکه هم معمائی ده چې د افغانستان په شمال کښې د زراعت لپاره ډیری ښی مساعدی سیمی شته چې هلته وحشی قبایلو کولای شوای په لرغونی بزرګری سره لګیا شوی وای .

---

(۱) دډیر ډیر پخوانی عصر څخه دډبرو نوی عصر ته د تکامل وخت. دغه وخت خلک کوچیتوب پریږدی زراعت منځ ته راځی .

دا باید وویل شي چي دلته دهندکش د شمالي سلسلي نه ترامو دریاب پوري حاصیلخیزي مځکي په ډیر شدت په لرغوني دوره کښي کرل کیږي .

دا هم امکان لري چي ددې پیښي اساسي عوامل په دې پورې تړلي وي چي د افغانستان شمالي برخې دارکیالوژي له نظره ښې نه دي مطالعه شوي دا هم امکان لري چي د ٦-٤ زرم کال قبل المیلاد په حدودو کښي ډیره لرغوني بزګري پیشه دلته شروع شوي وي او بیا وروسته د حاصلخیزو مځکو په لټون پسي جنوب ته تللي او هلته ئي د مونډیګک دیموراسي په تیپ کلي جوړ کړي وي . په هر صورت د ٥-٤ زرو قبل تاریخ کښي د لرغوني قبایلو د مشته کیدو نقشه دارکیالوژیکي موادو په رڼا کښي په جنوب غربي منځني آسیا کښي ښوول شوي . د لاتر اوسه دا فرضیه هم شته چي د جنوبي افغانستان او بلوچستان قصبات د کومو لرغونو قبایلو له خوا جوړ شوي ؤ چي د لرغوني غربي منطقي څخه دلته راغلي ؤ .

زموږ د موضوع لپاره تر ټولو زیاته دلچسپي د مونډیګک کلي لري چي د جنوبي ترکمنستان د ګیو کسیور وادي آثارو سره جوت کلتوري مقایسه کیدای شي . دغه مقایسه او تطبیق تر ټولو زیات د مونډیګک د ٣-٤ قشرونو د لوښو هم تیپه نقاشي کیدای شي چي د ګیو کسیو روادي دانیولیت دوري وروستي برخي د کلیو په لوښو کښي څرګندیږي . دغه خاورین لوښي چي په مونډیګک کښي پیدا شوي دي . په درې زرم کال قبل المیلاد تاریخ پوري اړه لري او داسي ښکاري چي د دغه ځای سفالي لرغوني ارت سره نسبي رابطه نه لري او یو دم له کومه راغلي دي .

د بلي خوا دغه سفالي ارت د همدغي مشابهي نقاشي سره د ٣-٤ زرو قبل المیلاد په حدودو کښي د ګیو کسیور په کلیو کښي موږ ته معلوم دي په دې معنی چي تقریباً پنځه سوه کاله د مخه دغه ارت هلته تاریخي قدامت لري . تر دې علاوه تقریباً په همدغه وخت کښي چي د افغانستان په جنوب کښي دغه معمائي لوښي پیدا کیږي د ګیو کیسور وادي په بیابان بدلیږي . د جنوبي ترکمنستان او سیدونکو کولای شول چي د تیجن هریرود نه د افغانستان او بلوچستان منطقو ته ور تیر شي .

ددې موازي ښودل شو یو لارو د بیا نولو لپاره بله طریقه هم امکان لري . خبره دا ده چي مونډیګک او ګیو کیسور وادي یو د بله ډیره زیاته فاصله لري . د مشهد نه تر هراته پوري ارته منطقه پرته ده چي ارکیالوژانو تر اوسه تقریباً نه ده مطالعه کړي .

دا هم د امکان څخه لیرې نه ده چي کلتور ئي د لرغوني ګیو کیسور او سیدونکو او مونډیګک سره نژدې وکه ددې منطقو دانیولیت د دوري (د مسو، د ډبرو پیړۍ) د او سیدونکو ارتباط معیني لاري او عوامل لاتر اوسه په تیاره کښي وي نو د دوي د تاریخي نژدیوالي سوال خو هیڅ طرح کیدای نشي . په رشتیا هم دغه مقایسه د مونډیګک او جنوبي ترکمنستان د سفالي لرغوني ارت په نقاشي پورې محدوده کیږي بلکه د مادي کلتور په نورو اړخونو کښي هم لیدل کیږي په دې ترتیب سره دغه ټاکلي نژدې والي د ښځینه خاورینو وړو مجسمو خصوصاً د هغوی لوزي فورمه ډبرینو تنګو څیري شویو سترګو د غشیو سرونو ، مسي تزیینی سنجاقونو ، د ماهي ګیرۍ چنګکونو ، ډبرینو ډیوو او د مسي نورو شکلونو تر منځ موجود دي . د دې خبري لپاره د مونډیګک او جنوبي ترکمنستان مهرونه ښه دلیل کیدای شي .

دغه مهرونه نه یوازي په یو ډول نقاشیو سره ښائیسته شویدي بلکه د خطونو د کیندلو تخنیک ئي هم یو ډول دي .

تر دې علاوه د جنوبي ترکمنستان ټول مهرونه لاستي لري یو اځي یو مهر د لاستي پر ځای په منځ کښي دوه سوري لري . اما د مونډیګک ټول مهرونه په منځ کښي دوه سوري لري . ډیر زیات امکان لري چي د جنوبي ترکمنستان دغه یو مهر د جنوبي افغانستان څخه راوارد شوي وي . برنجي مهرونه چي د حیواناتو شکلونه ورباندي رسم شویدي هم تر یوې اندازې شباهت لري په دیموراسي کښي یو میندل شوي مهر چي د څناور تصویر لري . په دیموراسي کښي یو موندل شوي مهر چي د څناورو تصویر لري را پیادوي د بلي خوا حیرانونکي نژدیوالي په ګومبت شکله کوټو کښي چي د خښتو څخه تیاري شوي او یو ډول مخصوصي مقبري وي چي د مړیو یوه دسته به پکښي ښخیدل هم پکښي لیدل کیږي په موجوده وخت کي دا ډول مقبرې په ټول لرغوني ختیځ کښي یوازي په جنوبي ترکمنستان او مونډیګک کي شته باید وویل شي چي دغه د مړو د ښخولو د عنعنو تر منځ نژدیوالي یوه تر ټولو اطمینانی او په عین وخت کښي د دوي تر منځ تاریخي ، کلتوري او تر زیاتي اندازې پوري د نسبي نژدیوالي ښکاره علامه هم ګڼل کیږي .

د دوهم زرم کال قبل المیلاد په شروع کښې د موندیګک د کلتور سقوط لیدل کیږي، ددې سقوط عامل لکه چې څرګنده ده د ازبکستان څخه د لرغوني فرغاني ت.ن چوستي قبایلو هجوم سره ربط لري.

دغه فرضیه به وروسته معینه شي اما اوس چوستي کلتور ډیر راپدیخوا دورې یعنې د دوهم زرم کال قبل المیلاد پای سره تړي.

ددې نه پرته باید وویل شي چې د موندیګک سقوط په هغه وخت کښې منځ ته راځي کله چې په سند او پنجاب کښې دهدپې ښارونه له منځه ځي په ایران کښې کیسار شاه تپه او په جنوبي ترکمنستان کښې داسې لوی کلي لکه نمازګاه دیپه التین دیپه او نور.

امکان لري چې ددې حالاتو سره هندوستان ته د آریائیانو مهاجرت تړلی وي ددې تاریخي پرابلمونو د حل لپاره پدې منطقو خصوصاً په افغانستان کښې ارکیالوژیکي تحقیقات ضروري دي.

د زرم کال قبل المیلاد لمړی نیمائي برخې ارکیالوژیکي آثارو مطالعه تر اوسه بالکل کمه شویده اما د بیلو بیلو کلیو حفریاتو په پوره وضاحت سره د باختر، پارفیان، مارګیان، سغد، درانګیان (د افغانستان په سیستان کښې نادعلي) او آراکوسیا (د موندیګک پاسنې برخه) ترمنځ کلتوري یووالي وښود حتی داسې فرضیه هم شته چې ۷-۶ پیړۍ قبل المیلاد ددغې ټولې منطقې په یوه سیاسي قلمرو کښې راتلل.

دهغو بحراني واقعاتو په شرح باندې به دلته نه درېږو کوم چې د مقدوني سکندر له فتوحاتو، دهغه دیونان باختري دولت تشکیل پوري چې د افغانستان شمالي برخې او د شوروي اتحاد منځنۍ آسیا جمهوریتونو ځینې سیمې شاملې وې مربوطې دي.

دومره باید ووایو چې تر وروستیو کلونو پورې موږ دلیکل شو و آثارو له مخې فقط دومره پوهیدو چې دغه دولت دخپل مرکز باختر (دمنځنیو پیړیو بلخ) سره د کوشانیانو کوچې قبایلو دهجوم په سبب سقوط وکړ.

د سورخان دریاوادي او جنوبي ازبکستان کښې د وروستیو کلونو تحقیقات چې د کوشانیانو فاتحانو په باره کښې شویدي موږ ته ددوی د مادي کلتور په برخه کښې ابتدائي تصور لاس ته راغلي او د هغه په استناد ویل کیدای شي چې دا وخت کوشانیان پوره مسکون شوي ؤ.

دخالچیانو د سستماتیکي حفریاتو په نتیجه کې هغه قصر حاکمانو د قبل المیلاد په اوله پیړۍ کښې را برسیره شو چې کوشانیانو لومړی آباد کړي ؤ.

دغه یو پوړیز عمارت لویه عمومي دروازه دایروي دهلیزونه، لوی سالون او فرعي عمارتونه درلودل.

دعمومي دروازې او سالون په دیوالو کښې مجسمې او د دیوال په مخ باندې مختلف اللونه نقاشي شویده نقاشي خرابه شویده یوازې دومره وشوه چې دځینو نباتاتو او هم د کوم نارینه نقاشي لاس ته راغله، مجسمې ښې ساتل شویدي.

په خالچیان کښې د اتینا (٤) ساتیر (٥) سرونه د ګیرلیاندانو شکلونه (٦) د رقاصو ښځو دیوې پیغلې مجسمه چې تمبورئې په لاس کښې دي د رب النوعو نیم تنه مجسمې د ارفیست (٧) سر او داسې نور آثار موندل شویدي.

ددې آثارو مخونه ځینې دومره تخیلي دي چې ممکن تش تصویر وي.

دساتیرو د مخونو تراژیکه بڼه سړي ته دیونان رومي هنر په ځای یوناني هنر ورپه یاد وي.

دلته درې شکله دخاصې توجه وړ دي، فکر کیږي چې دا به د شاه او ملکې تصویر وي، ددوی د پاسه محافظ کوونکي رب النوعي ولاړي دي، ګمان کیږي چې منځنۍ شکل د کوشاني شاهانو د ګیرای له خاندان څخه کوم یو پادشاه وي یا دا چې ممکن پخپله ګیرای وي.

---

(٤) اتینا، د لرغوني یونان په متیولوژي کښې د عقل او جنګ رب النوع ده.

(٥) اساتیر، د لرغوني یونان په میتولوژي کښې د شرابو او عیش رب النوع ؤ.

(٦) ګیرالیاندان، کوچنی هلکان چې د ګلو امیلونه به ئې خلکو ته وړاندې کول.

(٧) ارفیست، ګرافه د ساز یوه آله ده هغه څوک چې دغه آله ږغوي هغه ته ارفیست وایي.

گیرای د کوشانی لمړی کادفیر څخه دمخه تیر شویدی چی د یوجیا د پنځو قبیلو څخه یوې ته منسوب ؤ .

گیرای ساکیان له هغه ځایه وشړل او د آمو دریاب په دواړو غاړو ئی ځان محکم کړ .

د گیرای تصویرونه چی په سکو باندی موږ ته رارسیدلی دی د تصویر له مخی د خالچیان مجسمو ته نژدې ښکاری .

په عمومی صورت فکر کیږی چی دغه گروپ د گیرای قبیلی د اشرافو نمایندگان وی چی په شاهی میلمستیا کښی گډون کوی او مرکزی صحنه هم ددوی لپاره هدیه شویده .

د خالچیان د قصر د کشف سره په افغانستان کښی د سرخ کوتل مشهور معبد نه یادول درسته خبره نه ده ځکه دلته هم گیرای د کوشانی لومړی کادفیر څخه دمخه تیر شویدی چی د یوجیا د پنځو قبیلو څخه په شان قطع شویدی .

د کاپیتیل (ستنی) پورتنی برخی د مجسمی تزئینی پارچی او داسی نور شیان موندل شویدی که د سرخ کوتل معبد په رشتیا هم یو څه راپدیخوا زمانه یعنی ۱-۲ پیړۍ قبل المیلاد کښی د خالچیان تر قصر وروسته آباد شوی وی نو پدې صورت کښی زموږ په مخکښی د تاریخ له نظره یوه بله نوی لار خلاصیږی هغه دا چی د باختری کلتور انکشاف د کوشانیانو په لومړۍ دوره کښی منځ ته راغلی دی .

پدې برخه کښی زموږ د پوهی د محدودیت سره سره دغه کشف شوی آثار د باختری هنر د لرغونی دورې متعلقو پرابلمونو د پوهی لپاره واقعی شمزۍ جوړوی .

شلومبرژی لا ویلی دی چی د سرخ کوتل د مجسمی د متهورا (۸) مکتب سره ډیری نژدې او ددې سره دا هم

---

(۸) متره یا متهورا، د هندوستان په شمال کښی د (جمنا) دریاب په غاړه یو ښار دی د هندویزم په مرکزونو کښی دغه ښار یو له ډیرو قدیمی ښارونو څخه گڼل کیږی .

د «ځپلیار» ژباړه:

نوی فلز

انگلیسی پوهانو اوس یو نوی فلز کشف کړی دی چی د هغه فلز الستیکی قدرت نسبت نورو فلزاتو ته ډیر دی .

دا نوی فلز چی د (زم) په نامه یادیږی له دوو مادو یعنی (زنگ او المونیم) څخه تشکیل شوی دی .

نوموړی فلز چی تر فولادو نرم او سپک دی زنگ نه اخلی او هروخت چی حرارت ورکړه شی او ږدوالی ئی دوچنده کیږی .

افکار

افسوس پر هغه چاچی په ژوند کښی کوم منظور نه لری او دورځو په تیریدو کښی کوم کار نه انجاموی هغه ژوندی نه دی او ژوندئی تر څاروی بدتره دی .

د امکان څخه لیری نه ده چی د کومو کوشانی پادشاهانو تقلید ئې کړی وی .

پدې باره کښی د خالچیانو مجسمی چی مخ ئې د یونانی سبک علامی لرې خاصه علاقه راجلبوی چی ریښی ئی د یونانیانو باختری هنر ماقبل دورې ته رسیږی .

د دې ټولو پوښتنو مجموعه د گندهارا د صنعت پرابلم سره چی ځینی آثار ئی پدې وروستیو کلونو کښی په منځنی آسیا (جنوبی ازبکستان، جنوبی ترکمنستان) کښی پیدا شویدی ټینگه رابطه لری .

د مخه مو کوښښ وکړ چی د نوو کشف شوو ارکیالوژیکی آثارو په مرسته د دې سیمو د خلکو د کلتوری روابطو خصوصیات وښیو .

راتلونکی ارکیالوژیکی تحقیقات چی د دې سیمو د ماقبل التاریخ آثارو په برخه کښی کیږی د دوی د تاریخ په روښانولو کښی بی شکه لویه برخه ولری .

د نرګس مرګ

کله چې نرګس په اباسي خوب بیده شو د بڼ ګلونو د ویر او ماتم مراسم برخای کړل په بڼ کښې د وانو او بو د ویالې نه غوښتنه وکړه چې د ژړا د پاره دوی ته

څو څاڅکي اوبه بوروو کړي .

ویالې آه وکښې او ویې ویل :

نرګس د ومره ګران ؤ که زما ګوله او به اوښکې شي او د نرګس په تابوت ئې وشیندم بیا هم کمې دي .

ګلونو وویل :

رشتیا وائې، دهغې ګولې ښکلا سره چې نرګس د زلو د څرنګه کیدای شي چې تاته دې ګران نه وای .

ویالې وپوښتل : آیا نرګس ښکلې ؤ ؟

ګلونو وویل : هو، کله چې به نرګس په ملاماتیدې اوستا په روغو او بو کښې به ئې د خپل ښکلې بدن ننداره کوله ته باید ترمونږ نه وپوهیږې چې نرګس په رشتیا ښکلې ؤ .

ویالې وویل :

ما ته نرګس له دې کبله ګران ؤ چې هغه به پر ملامات شو ما ته به ئې کتل، ما کولای شو چې خپله ښکلا د نرګس په ښکلو ستر ګو کښې وګورم .

(سکاروویلي)

شعر او فلسفه

اوریځې په هوا کښې دي .

څاګانې کښته په مځکه کښې، هغه څه چې په هسکو اوریځو کښې شته په ژوروو څاګانو کښې هم شته .

په دغو اوبو باندې هم هغه تنده ساتیږي د لوړ خیال اوژور فکر نتیجه هم یوه ده

ته یا خپل نظر ډیر لوړ کړه، یا په خپل ګریوان کښې سر ډیر کښته کړه .

د شاعر او فیلسوف فرق همدغه دې ژه شعر او فلسفه همدغه شان ګڼم .

[الف]

شپیلۍ

ورځ ولاړه، پر مځکه سیوري راکښته او خپور شو د دې وخت دې چې د خپل منګې د ګولو لپاره چینې ته ولاړه شم .

د ماښام هوا د اوبو په غمګین راګ مسته ده .

آه هغه ما د تیاري خوا ته بولي، په دې چپه چپائي کوڅه کښې بو لاروي نه شته، هوا په زور کښې ده د سیند څپې په تندي راپورته کیږي .

زه نه یم خبر چې خپل کور ته به بیرته ولاړه شم که یه ؟

نه پوهیږم چې په لاره کښې به څوک راسره مل شي ؟

دهغه ناپایه سیند په یوه کونج کښې بیړۍ کښې کوم ناپیژند ونکی سړی ناست او خپله شپیلۍ وغوږي .

«ټایګور»

انګاس

کوم وخت چې به لوی څنګله کې ډغ دځنا وروشي یا چه د تروم له خولې نه پورته یوه خبره شي کوم وخت چه له اوریځونه د تالندې آواز شي خپور یا د غونډې شاته کومه پیغله په سندره شي، ته په تش ماحول کښې بیا هغه غبرګوي بیرته، هرچا ته د خپلې خولې خبرې اوروي بیرته، ته په ډغ د تالندې بریښنا او د څپو خبره، ته په سو یوستې وآواز ونو د شپېنو خبره، ته هرچا او هرشي ته د ده د ډغ ځواب وائې، ته د همه واړو په غمو او ترانو خبره، تا ته مګر څوک ستاد سندرو ځواب نه وائې، ته ای شاعره ! یوستا د خبرو ځواب نه وائې .

«د پوشګین ژر»

کندهاری «رشاد»:

خان ته !

خانه ته چی گډ په نازو په نخرو ئې
خانتما په ټوکر مځکه څو پیسو ئې

زه پوهیږم د پر دیو غوړو زور دی
دا چی ستړی بیا د ټیغ په صافیدو ئې
د خپل کور چرګان وهی بریتو نه مروړې
مرګ دی مه وه رشتیا باز د خو ګیا ډو ئې

د دوستۍ مزو ته تیغ ئی د پولادو
د خپلوۍ کور ته بوټی د اغزو ئې
د خواږه اکا د زوی د سر دښمن ئې
د شیرین یتیم وراره په خواریدو ئې

د تنګۍ کونډی د سر پوړنی اخلې
د تندۍ بوری ټغر ته پر ګونډو ئې
د بی وسه همسایه د پټۍ غل ئی
د بې وزله سیمه دار د بیخ په کښو ئې

د مسکین بزګر د څیرې مشتک مږه
د عاجز باغوان د خوار لاندی پیشو ئې
د پښې بیلی مسافر د لاری ژرګه
د لار ورکی چولاوه لومه د پښو ئې

ښاد په ورکه د یتیم د مور له غیږی
خوښ دوږود کورګی په ورانیدو ئې
د لیوه په څیر کمین کی همیش ناست ئې
د مظلومو مږو د غوښو په ارزو ئې

نن ارمان په غړمبی کاږه د کور ببره
سبا بیا د دربار سپو ته په سجدو ئې

د شاعر احساس

زما خوا ته راغله !
څوک ؟
محبوبا !
څه وخت ؟
سهار مهال !

⁂

وېرېدله !
د چا نه ؟
د رقیب نه !
هغه څوک ؤ ؟
پلار ئی !

⁂

ښکل مې کړه دوه ځله !
پر کوم ځای ؟
پر سرو شونډو !

⁂

شونډان وه ؟
یه !
څه شی وه ؟
عقیق !
څه ډول وه ؟
لکه شکره !

سلوه هلته تندی چی مراد دی در کړی
د دربار نظر روږد کړی په حملو ئې

کلی کور ورته لوټه، بقائې غواړه
د موږی په برکت په غورځیدو ئې

د ننګرهار نه:
د «همراز» ننګرهاری رالېږنه:
ادبی ټوټه

تا ته وایم!

خو دغه ستوری تیاره ګوټونه نه روښانه کوی .

که سپوږمی درته ووایم ؛ خو سپوږمی هم کله، کله د افق په شینکی فضا کښی له سترګو څخه غائبیږی ...

نو څه درته ووایم ! او په څه نامه دی وبولم ...

ستا ښکلی نامه ته زه حیران یم ! نو څه ووایم، او څه ولیکم .. خو ګرانی که د روانو او بو

(په ۲۲ مخ کښی)

ګرانی ! نه پوهیږم چی په څه نامه دی وبولم ...

څه درته ووایم ...

که د څوارلسمی سپوږمی دی وبولم ؛ خو د څوارلسمی سپوږمی یواځی او یواځی د څوارلسم د پاره وی ....

که د آسمان ستوری دی وبولم

لیکونکی عبدالمنان «امین»:

دکندهار لاسی صنایع

کندهار چی دګران هیواد یو تاریخی او لرغونی ولایت دی دا ولایت نه یوازی د تاریخی او جغرافیائی موقعیت درلودنکی دی بلکه د زراعتی پیداوار مخصوصاً میوو، او لاسی صنایعو لکه سوزنی خامک له کبله جهانی شهرت لری.

دخامک ګنډلو صنایع چی دډیرو کلو راهیسی ددې ولایت صنعتګرو میرمنو ته په میراث پاته دی ددغو زحمت کښو او صنعتګرو میرمنو دسترګو او د لاس دګوتو د نقشونو یو زرین صنعت دې چی په داخلی او خارجی بازارو کښی ئی د زیات شمیر وګړو توجه جلب کړی ده.

دخامک ګنډلو صنعت چی دنفاست او ښایست له لحاظه د هر لیدونکی توجه ورجلبوی او ټوله وګړی ئې خوښوی په کندهار کښی دمیرمنو دټولنی په تأسیس او منځته راتلو سره ددې محیط یوه برخه صنعتګری میرمنی په کښی شاملی او دا صنعت ورځ په ورځ دکورونو دچار چوب او محیط څخه راوزی او په پراخه پیمانه ئی د نوی ډیزانونو په طرح سره او د ګنډلو د طرز له مخی نوی بڼه ځانته غوره کړیده چی دخلکو انتظار ئی جلب کړیدی او دې صنعت په هر ګوټ کی علاقمندان پیدا کړی دی چی له دې کبله دخامک ګنډلو انواعو او اقسامو په مختلفو ډولونو ځانته بڼه غوره کړیده چی عبارت دی دخامک دوزی، ګلا باتون دوزی، آینه کاری او داسی نور، چی دکار نفاست، ښکلا او تزئین ئی دهر لیدونکی سترګی خیره او جذبوی نو ځکه ویلای شو چی طبعاً دا کار وخت، زحمت او رنج ایجابوی.

کوم مواد چی دخامک ګنډلو لپاره په کار لویږی هغه عبارت دې له وریښم او سنډ څخه او د کوموټکرانو چی پرمخ ئې خامک ترتیبیږی هغه مختلف اقسام لری.

دکندهار دخامک دوزی یا دستنی دکار په اړخ کښی نوری صنایع هم سته چی مشهور ئی مسګری، زرګری، کلالی او بوټ دوزی ده او داسی نور.

دمسګری صنعت:

دمسګری صنعت دا چی دافغانستان د لرغونی صنایعو څخه دی او کوم شیان چی په کندهار کښی جوړیږي په زړه پوری او مشهور دی چی دهغو له جملی څخه دلاس پریولو ګډوه، دوشی، پتنوس او داسی نور چی ډیر زیات مشتریان لری خو څنګه چی توقع کیږي دمسګری دفن دډیزاین او طرحی په برخه کښی چندانی پرمختګ نه محسوسیږی.

دزرګری صنعت:

دکندهار دزرګرې فن چی عمده برخه ئی په طلا کاری پوری منحصره ده او اوږده سابقه لری بدې ځای کښی د ښځو دفیشن او نارینو دفیشن وړ شیان جوړیږی او په ښه بڼه او ښکلو شکلونو مشتریانو ته اهدا کیږي همدا رنګه دطلا کاری ښکلی صنعت په هرات او غزنی کښی ډیر رواج لري.

دکلالی صنعت:

دکلالی صنعت چی دلاسی صنایعو په لړ کښی په خپل وار په کندهار کښی ډیر لرغونی تاریخ لری بدی څو کلو کښی ددغه فن دکارکونکو د ځینو تشبثاتو له مخی ډول ډول لوښی په ښایسته رنګونو او مختلفو ډولونو جوړیږی ددې لوښو دجوړیدو او رنګ آمیزی طرز ډیر په زړه پورې دې چی دهر لیدونکی خوښیږی او نه یوازی د ورځی په پراخه انداز د مراجعینو د اړتیا په غرض پلورل کیږی بلکی په کورونو کښی دکور د تزئین له پاره د استفادې وړ هم ګرزی.

دبوټ جوړولو صنعت:

دا صنعت هم دخامک ګنډلو په لړ کښی اوږده سابقه لری چی په تیرو کلو کښی ئی یوازی سلیپر او چوټی (چپلی) ډیر شهرت درلود او د هیواد دهر ګوټ خلکو علاقه ورسره درلوده.

(نور په ۲۲ مخ کښی)

دمشایخو پېژندنه:

غلام فاروق «انورزی»

ملا شاه پسند اخوند

ملا شاه پسند صاحب (علیه الرحمه) د ملا محی الدین زوی او د خیرالدین نمسی دی، په خټه ایوبزی پوپلزی او د کندهار دنیش په علاقه کښی، په کوم ځای کښی چی ددوی د نیکونو ټاټوبی ؤ په ۱۲۱۶ ش کال کښی زیږیدلی دی.

د ملاشاه پسند اخوند په څهره کښی دوړ کتوب د وخت څخه د نیك او متقی انسان نښانی څرګندی وی. ده د عمر په اوه کلنی کښی د علم او دین خواته ملا وتړله.

ددینی علومو د زده کړی دهغه خاصی علاقې او ذوق له مخی چی دده په زړه کښی ئی ځای نیولی ؤ، ددینی علومو د تحصیل په لاره کښی ئی شپه او ورځ زیار وکیښ ترڅو چی په دوولس کاله کښی ئی مروجه علوم دخپل وخت دلوړو عالمانو تر لارښوونی او پاملرنی لاندی ټوله خلاص کړل.

دی په صرف، نحو، منطق، احادیث، تفاسیر او فقه شریف کښی ښه عالم ؤ او ددغه علومو تدریس ئې طالب العلمو ته کاوه.

ملا شاه پسند اخوند صاحب د تصوف سره خاصه علاقه او ذوق درلود.

دلوړو عالمانو او د ډیرو ښو کسانو حضور ته رسیدلی ؤ، دده طریقه قادریه ده.

ملاشاه پسند اخوند زیاتره وختونه په روژه نیولو تیروله او څلویښت ورځنی خلوتوته ئی کښل، که څه هم دی د ګوښه نشینی طرفدار ؤ خو د شریعت څخه ئی مخالفت نه خوښاوه او اجتماع ئې هم نه ایله کوله او د ټولنی یو اجتماعی او همدرد غړی ؤ.

ملاشاه پسند اخوند پخپله هم د ارشاد مرتبی ته رسیدلی ؤ او پخپل طریقت کښی ئی ډیر مریدان درلودل.

خدای بخښلی دورځی دخدای د بندګانو خدمت او د شپې عبادت کاوه.

هر ځای چی به داو بو چینه وه هورې به ده دمسافرانو دپاره یوه پناه ګاه چی تکیه ئی بولی جوړوله.

مرحوم ملاصاحب عمومی لاری آبادولې، پرلویو ویالو به ئی پلونه جوړول، په هغه ځایو او سیمو کښی چی به، روانی او به نه وی هلته به ئې ځاهان او ارهډونه کښل، په دښتونو کښی به ئی د اوبو د ویالو پرغاړه دتوتانو ونی کښینولې چی داوړی په موسم او تودوخی کښی د لارویانو او مسافرانو دپاره د هوساینی ځای شی.

مقصد دادی چی ملاشاه پسند اخوند خپل ټول جسمانی او روحانی طاقت دخپل قوم او ټولنی څخه نه ؤ سپمولی او ده دعبادت ترڅنګ خپل ټول عمر د خلکو په خدمت کښی تیر کړیدی.

ملاشاه پسند اخوند د ٤٥ کالو په عمر د بیت الله شریفی او مدینې منورې په مبارکو زیاتو مشرف شویدی او په پای کښی د ۷۵ کالو په عمر په ۱۲۹۱ ش کال کښی ئې ددې فانی نړۍ نه سترګی پټی کړی او د دارالفنا څخه دارالبقا ته وصل شو.

ملاشاه پسند اخوند برسیره پردې چی یو روحانی او لوړ دینی عالم ؤ، پیاوړی شاعر او لیکوال هم ؤ او په پښتو ژبه ئی ډیر اشعار ویلی دی.

څرنګه چی ملاصاحب یو متصوف سړی ؤ نو دده زیاتره شعرونه تصوفی او اخلاقی دی او په هر ځای کښی ئی د زهد، تقوا او اخلاقو توصیه کړیده، دظاهری او مادی ښیګڼو څخه نفرت کوی او خلك معنوی ژوند او اخروی ګټوته رابولی.

(نور په ۱۹ مخ کښی)

د خارجي مطبوعاتو نه:

د غ، ایوبزی ژباړه:

که ټول خلک یو ډول وای

د محیط او وراثت عامل:

هر وخت چی د انسانانو په هکله څیړنه وکړو وینو چی د هغو تر منځ د ځینو خواؤ څخه ورته والی او د ځینو نورو خواؤ څخه زیات توپیرونه شته.

دغه توپیر د تفکر، استعداد او ژوند د طرز، د پوستکی رنګ شکل، د قد د اندازی، د سترګو د رنګ او داسی نورو له کبله دی.

هر انسان د بهرنی او د ننني ساختمان، روحی او جسمی پلوه د یوه خپلواک واحد په حیث دی.

دغه خپلواک واحد په عین آزادی کښی د نورو سره ورته والی او زیاته هم آهنګی لری.

د روح پیژندنی پوهانو د موضوع د اهمیت له کبله په دغه هکله علمی څیړنه کړی او د څیړنو نتیجه ئی د بیلو بیلو نظریاتو په شکل د روحیاتو په کتابونو کښی ثبته شوی ده، دغه نظریی ځینی افراط او ځینی تفریط ته متمایلی او ځینی نوری اعتدالی دی.

امریکائی روح پیژندونکی (آلبرت) چی ډیره اعتدالی روانی نظریه ئی منځ ته راوړی ده وائی: «د انسانانو هر فرد په وراثت کی د محیط حاصل ضرب دی» یعنی که فرض کړو چی فرد مربع دی، قاعده ئی محیط او لوړوالی ئی وراثت دی، بدیهی ده په هره اندازه چی د مربع د قاعدی او ږدوالی او یا د لوړوالی طول ئی زیات وی د مربع مساحت ډیریږی، خو دا نه شو ویلای چی د مربع مساحت یوازی د هغی په قاعده یا لوړوالی پوری تړلی دی، دا ځکه که د دغو دوو څخه هر یو نه وی مساحت به هم وجود ونه لری.

د هری نطفی د سلول په هسته کښی د کروموزوم ۲۴ زوجه موجود دی د دغو کروموزومو نیمی د پلار له خوا او نیمی ئی د مور له خوا زوی یا لورته نقلیږی.

په هر کروموزوم کښی د ژن په نامه د ذروی شته چی په ځینو څارویو کښی په سترګو لیدل کیږی او په ځینو نورو کښی د انسانانو په څیر حتی په قوی مایکروسکوپونو کښی هم نه لیدل کیږی.

ژوند د وراثت عامل دی هغه ورته والی چی یو زوی یا لور د مور او یا پلار سره د بدن د ځینو غړو له کبله لری له دې کبله دی چی د هغه غړی ژن ئی د پلار او یا مور څخه اخستی دی، نو ویلای شو هغه بیل بیل ژنونه چی وړو کی د مور او یا پلار څخه اخلی د زیاتو بهرنی او د ننني اختلافونو باعث ګرزی خو یوازی ژن هم د وراثت عامل نه شو ګڼلی.

دا ځکه په غبز ګولیانو کښی په داسی حال کښی چی په دوو بیلو بیلو محیطونو کښی و روزل شی اختلافونه منځ ته راځی او دغه اختلافونه لکه څرنګه چی په مسلمه توګه ئی عامل وراثت نه دی، ارومرو ئی عامل محیط دی او په هغو کسانو کښی چی په یوه محیط کښی و روزل شی د اختلاف علت ئی وراثت دی خو باید توجه وکړو هغه کسان چی د وراثت له لحاظه یو د بله فرق سره لری د یو واحد محیط اغیزه پر هغو یو ډول نه ده.

نو کوم شی چی د خلکو د اختلاف منشاء ده محیط او وراثت دی لکه څرنګه چی آلبرت وائی «البته دغه د هغو اختلافونو څخه بغیر دې چی خلک ئی دارا دی کارو او چارو له حیثه او یا دارا دی د آزادی له کبله پیدا کوي».

د تفاوت ګټی:

شک نسته چی د انسان او نورو مخلوقاتو پیدا کیده د یوه منظم او دقیق حساب له مخه دی، د روحی او بدنی ساختمان له حیثه د انسان په منځ کښی اختلاف هم د دغه قانون څخه جلا نه دی.

انسان یو اجتماعی مخلوق دی او دی ته اړ دی چی د اجتماعی ژوند لپاره ځان محدود کړی او د فردی آزادی څخه تر هغو پوری چی د ټولنی نظم ته زیان و نه رسیږی ګټه واخلی.

ټولنه یو شمیر اړتیا وی لری او د دغو اړتیاؤ د پوره کولو

هر څوک د ځان د پاره باید یو کار او شغل ځان ته وټاکی.

ټولنه لارښوونکی، قانون پوه، انتظامی قواؤ، قضائی دستگاه، ښوونکو، لیکوال صنعتگر، دهقان او سوداگر ته ضرورت لری او تر دغو ټولو زیات یوه ټولنه یو داسی چاته ډیره اړتیا لری چی اخلاقی لارښوونکی وی او په ټولنه کښی د اخلاقی فساد بیدینی او بی بندو باری سره کلکه مبارزه کوی او روحانی رهبر گڼل کیږی.

څرگنده ده چی سخت او عالی کارونه یوازی پوهو او لایقو کسانو ته سپارلی شو او ساده او عادی چاری هغه چاته سپارو چی د فهم درجه ئې لوړه نه وی او د هغه تر عهدې وتلای شی.

هر کله چی یوه وظیفه کوم لایق سړی ته وسپارله شی او هغه پښه تر کمبلی د باندی کښینږدی او په خپل حد قانع وی د ټولنی پر مختگ ته لار خلاصوی. استعدادونه روزل کیږی او د خلکو د ابتکار قوه په کار لویږی.

څو مره به ښه وی چی په مدرسو کښی د وړو کو معنوی قدرت او استعدادو سنجول شی، کوم کسان چی په یوه رشته کښی لوړ استعداد ولری په هغه لار کښی دی و روزل شی، مستعد کسان چی په هره رشته کښی د استعداد خاوندان وی او د هغه سره علاقه لری هغه کار دی ورته وسپارل شی.

واقعاً دغه روش ډیر ښه او د خلکو په گټه دې او وړو کی بدې ډول ښه رشد کوی او د لویانو په هکله هم باید دغه ډول وشی.

یوه ارزښت لرونکی وینا:

د پورتنیو خبرو په نظر کښی نیولو سره د هغو ویناؤ ارزښت ښه تر اڅرگندیږی چی څو ارلس-سوه کاله د مخه د اسلام مقتدایانو کړی ده، دوی وایی:

«خلک به تر هغو پوری د خیر او نیک مرغی سره مخامخ وی چی تفاوت سره ولری او هر کله چی دغه تفاوت د منځه ولاړ شی او ټول خلک سره یو ډول شی مړه به شی».

دغه وینا ډیره مؤثره او حیاتی ارزښت لری دا ځکه په هغه وخت کښی چی د اوس په څیر علم او پوهنی پر مختگ نه ؤ کړی او د ژنتیک په علم کښی تحقیقات نه وه شوی او روح پیژندنی په اوسنی معنی په هیڅ ځای کښی وجود نه درلود د یوې ستری معما د مخ څخه پرده لیری کړه او د هغه ارزښتناکی نتیجی څرگندی شوی.

(پای)

«د ۱۷ مخ پاته»

ملاشاه پسند...

د ده د پښتو د اشعارو کتاب «زاد لراحلین» نومیږی، چی د مرحوم نور محمد پوپلزی د کندهار د یوه کتاب پلورونکی په فرمایش او خاصه پاملرنه د لاهور په مطبعه کښی په ۱۳۴۷ ق کال کښی چاپ شوی دی.

د لته موږ د خدای بخښلی ملاشاه پسند اخوند د کلام نمونه چی د دنیا په مذمت کښی ئې ویلی دی، گرانو لوستونکو ته وړاندی کوو:

دا دنیا

بی وفا ده بی وفا ده دا دنیا
په وصال ئی هیڅوک نه کوی ویسا
په وصال ئی ډیر عالم دی غولیدلی
ناگهانه به له هر چا شی جدا
حقیقت ئې د بوډۍ په شان زبون دی
په صورت ده د عروس په شان زیبا
پوچ بی مغزه بی حاصله بی دوامه
نعمتو نه لذتـــــو نه د دنیا
یو وار مخ کاندی ښکاره بیا شی پنهانه
روښنائی ئې په مثال ده د بریښنا
کی د خدای په رضا ورکی دا به ستا شی
که بخیل شی دا ده ستا په ځان بلا
که په خیر په خیرات ئې چاته ورکی
بیله شکه ستا توښه ده د عقبا
اجتماع ده د ضدینو په دنیا کښی
چاته ښه شی چاته بده هویدا

د خارجي منابعو څخه :

ژباړونکی محمدعلی خواجه :

دیوه فیلسوف غوره وینا

دژوندانه دکړاونو دپدیدو په مقابل کښی دیو بل ژوندون ته دهیلی درلودلو بل لوړشی وجود نلری .

سړی نیکمرغی ته نه رسیږي خو هغه وخت رسیدلاد شی چی پر ابدیت باندی اطمینان ولری په هغه صورت کښی به احساس وکړی چی نور هیڅ ډول بد مرغی ورته وجود نه لری .

پاسکال پیشنهاد کوی چی دخواشینی څخه دبچ کیدلو لپاره ښائی چی دخدای (ج) په وجود اقرار وکړو او له هغه څخه الهام واخلو ، ددغه فیلسوف په عقیده

دخدای تعالی په وجود باندی زړه شاهدی ادا کوي، نه عقل او پوهه او دایمان کیفیت دغه دي چی پاک خدای زړه ته محسوس وی نه عقل ته .

(پاسکال) دفرانسی یو لوی فزیک دان او ښه فیلسوف دی چی په اوه لسمه پیړۍ کښی وځلید او دښو نظریو په وړاندی کولو سره ئی د ناپوهی ډیری تیاری

لیری کړی او غم وهلی بشرته یی هیله او امید پیدا کړ .

نوموړی دزلمیتوب له دورې څخه دغم او خپګان له منګلو څخه دخلاصون په هیله دایمان لمنه ونیوله ، (پاسکال) د نورود لار ښوونی لپاره یوه رښتیانی

قریحه درلوده او ډیر ځلی به ئی څه پوه خلک لیدل چی دده عقیده ئی غوښتل څوک چی به په انسانی مسئلو کښی ګیر راغی دسلا او مشوری لپاره به ده ته راتلی ، ددې لپاره چی پخپله لارښو دنه

کښی دغرور او ناپوهی په بند کښینوزی دمیخوډک دوسپنی کمربند ئی پخپله ملا باندی تړی او کله چی به کوم باطل فکر او نظریه په زړه کښی ورګرزید له سمدلاسه به ئی څو ضربې

کمربند ته ورکولی تر څو چی خوږ او درد ئی یو په دوه کړی، په همدغه شان ئی خپله وظیفه په یاد لرله .

پاسکال دمسکینانو کالی اغوستل هغه شی چی په سترګو ورته بریښیدونکی معلومیده مخ ئی ترینه اړاوه تر څو چی په کوم شی باندې زړه ونه تړی او په دغه ترتیب له مادیاتو څخه خلاص او

معنوی مقام ته ورسیږی .

ده دهر شی په باره کی څیړنه کوله له همدغه کبله داسی آثار ئې منځ ته راوړل چی تر ده وروسته دنورو لپاره الهام بخښونکی شول، د پاسکال په

نظر انسان یو عجب موجود دی، هغه غریزی چی دسړی په وجود کښی شته ددې نښه ده چی دې دسم فکر او معنوي اندیښنو درلودونکی دی، تجربه

سړی ته ښودنه کوی چی سړی کولای شی چی په ډیرو لوړو او سپیڅلو اندیښنو پیل وکړی یا داچی په کښته او سپکو خیالاتو کښی ډوب شی .

که سړی بشپړ طبیعت او دهغه برم

دعبرت په سترګو وګوري او خپلی سترګی دټیټو او کښته شیانو څخه چی دی ئی احاطه کړی پټی کړی او هغه رڼا ته چی دجاودانی ډیوې په شان دنړی درو ښانه کولو لپاره نصب شوی وګوری

دده په نظر کی به مځکه لکه په یوه پراخه دایره کښی یو ټکی (نقطه) معلومه شی چی دهغه په شاو خوا باندی یو ستوری چورلی ، حیرانیږی چی دا ارته دایره نسبت

بلی ارتی دایری ته تر نقطی نده لویه چی داسمان ستوری احاطه کړی دی که چیری دانسان پلټونکی نظر په همدغه ځای باندی ونه دریږی او دتخیل قوه

لیری ځایو ته ولاړه شی په نتیجه کښی هغه ځای ته رسیږی چی د نور له ادراکه څخه پاتی کیږی

طبیعت هغه دائره ده چی مرکز ئی ځای دی او محیط ئی هیڅ ځای ندی او په پای کښی دلوی خدای [ج] دلوړ قدرت د محسوسولو لویه نخښه ده چی زموږ تخیل په

هغه کښی ورک کیږی .

کله چی انسان له دغه ننداري څخه بیرته راوګرزید او خپل ارزښت ئی ددغه هستی په نړۍ

کښی وسنجاوه او خپل ځان ئی دطبیعت په دغه لیری ناحیه کښی سرګردانه ولید په هغه وخت کی

دمځکی ، ښارونو او دځان په هکله فیصله کولای شی .

پاسکال وروسته داسی وائی ، انسان ته توصیه کوم چی په دغه پیژندنه کښی ډیر ښه او ظریف موجودات وپلټی ، هغه وخت به ووینی چی یوه کوچنی خزنده سره له کوچنی والی ډیر کوچنی غړی لری ، د پښو تولی ئی بندونه او رګونه لری او په رګو کښی ئې وینه چلیږی سړی د دغه حیرانونکی شیانو په لیدنه هک پک پاتی کیږی .

پاسکال د مرګ په هکله داسی وائی :

هغه زمانه راتلونکی ده چی احساس به کوو ټول خوندونه موږ د تیریدونکی دی او غمونه او ناخوالی موپای نه لری په پای کښی هغه مرګ چی موږ تهدیدوی امکان لری زموږ په نظر کښی ناخوښه ښکاره شی . د دغو غم زیږونکی پدیدو په مقابل کښی که سم او ښه فکر وکړو و به وینو چی د یوه بل ژوندون ترامید بله لوړه آرزو نشته ، سړی نیکمرغی ته نرسیږی مګر هغه وخت رسیدلای شی چی په ابدیت باندی اطمینان حاصل کړی په هغه صورت کښی به احساس وکړی چی نور هیڅ ډول بدمرغی ورته وجود نه لری .

پاسکال پیشنهاد کوي د دې لپاره چی د غم او خواشینی څخه ځانونه خلاص کړو لازمه ده چی په لوی خدای [ج] باندی عقیده ولرو او د هغه څخه الهام واخلو د ده په عقیده زړه د خدای پر وجود باندی شاهدی وائی نه عقل او د ایمان کیفیت هم دادی چی لوی خدای [ج] زړه ته محسوس وی نه عقل ته .

پاسکال د زه (من) په تعریف کښی وائی : څوک چی د پنجرې شاته دریږی تر څو چی د تیریدونکو ننداره وکړی که زه له هغه ځایه تیر شم آیا د اویلای شم چی دی زما د ننداري لپاره د پنجری شاته ولاړ دي ؟

خیر دا ځکه چی دی هیڅ کله په خاص ډول زما په فکر کښی ندی ، که یو څوک یو سړی د هغه ښایست له کبله خوښ لري آیا په حقیقت او رښتیانې توګه ئی دوست لری باید ووایو نه ، دا ځکه چی د کوی دانی (چیچک) چی ښکلا له منځه وړی هغه کولای شی چی دی نور هغه سړي خوښ ونه لری که ما د عقیدی او حافظی له مخی دوست لری آیا ما دوست لری ؟ نه ـ ځکه چی زه پخپله له لاسه وزم .

نو دغه (زه) که نه په تن او نه په روح کښی دی چیرته دي ؟ او څنګه کولای شو جسم او روح پرته له دې چی د دغو صفتو لپاره چی زما د علت او شخصیت سبب نه دی دوست ولرو .

بنا پر دې خلک هیڅکله څوک دوست نه ګڼی بلکه د هغه صفات دوست لری ، زه کولای شم چی یو سړی بې له لاسو ، پښو او سر څخه تصور کړم خو داسې نه شم کولای چې هغه بې فکر تصور کړم او دغسی یو موجود ډبره یا بې شعوره حیوان دی .

له همدې ځایه ثابتیږی چی فکر انسانی لوی والی منځ ته راوړی ، زموږ ټول برم او لوی والی زموږ په اندیښنه کښی دي ، له همدې ځایه باید وړاندی لاړ شو او ښه سوچ وکړو ځکه چی د ښه خوی (اخلاق) اصل او بنسټ همداسی دی .

پاسکال د اجتماعی اړیکیو په هکله وائی زه فقر خوښ لرم دا ځکه چی خدای [ج] ئی دوست لری ، شته من می هم خوښیږی ځکه چی د بې وسو او نیست منو د لاس نیوی وسیله ده د هر چا په برخه کښی خپله وفاداری خوندی کوم ، څوک چی زما سره بد کوی تاوان ورته نه رسوم ، هڅه کوم چی د هر چا لپاره دادګر او رښتین اوسم ، د هغو لپاره چی پاک خدای [ج] زما سره پیوند کړی دی په ځان کښی د زړه مینه احساس کوم که څه هم یوازی یا دا چی د خلکو تر منځ یم .

پخپلو ټولو کارو کښی د خپل خدای [ج] مراعات کوم ځکه چی هغه زما د ټولو کارو داوری کوی او ما ټول شیان د ده په لار کښی وقف کړی دی .

دغه زما د احساساتو ډول دی ، زه هره ورځ خپل نجات ورکونکی ته چی دغسی احساس ئی راته بخښلی او زه ئی د شر او شرارتونو څخه خلاص کړی یم تسبیح او ثنا ویم .

پاسکال د مینی او ښکلا په هکله نظریی لری چی په زړه پوری دی .

دی وائی د مینی په تش یا دونه خلک مین کیږی او تر دغه هیڅ یو احساس اسان نه دی او داد انسان طبیعی میل دی ، مینه ټاکلی عمر نه لری او په هر وخت کښی ښکاره کیدلای شی .

(نور په ۲۲ مخ کښی)

(د ۲۱ مخ پاته)

دیوه فیلسوف غوره وینا

شاعرانو دا ټکی موږ ته ویلی دی، موږ بی له دې چی کوم شی له هغو څخه و پوښتو پخپله هغه حس کوو د پاسکال په عقیده ښایست او ښکلا په زرهاؤ جلوې لری او یوه له جلوو څخه ئی ښځه ده، کله چی ښځه د ذوق او قریحی درلودونکی دې ښکلا برسیره کوی او هغه د حیرت مرحلی ته رسوی .

بشر ته لازمه ده چی د ځان لپاره جوړه پیدا کړی ترڅو چی نیک مرغی ته ورسیږی او په غالب گمان سره دا جوړه د شرایطو په تساوی کښی پلټی دا ځکه چی آزادی د تساوی په شرایطو کښی په آسانی سره صورت مومی .

کله چی یو سړی بی د تساوی د شرایطو یوه ښځه دوسته لری . جاه طلبی ښائی د مینی له موضوع سره ملگری وی خو په لږه موده کښی مینه ورباندی بری پیدا کوی ځکه چی مینه جبار حاکم دی چی هیڅ و ملگری نه منی او غواړی چی یوازی وی، لازمه ده چی ټول هوسونه د مینی په وړاندی په گونډو شی او د مینی حکم او امر ته غاړه کښیږدی .

(پای)

(د ۱۶ مخ پاته)

د کندهار لاسی صنایع

ولی څنگه چی لیدل کیږی کم شی چی د گران هیوادو دغه مشهور صنعت ته ئې تاوان پیښ کړیدی هغه په مختلفو ډولونو د لیلامی بو ټونو و اردول او د هغو استعمال دی چی دیوې خوا ئی د کندهاری بو ټانو اصلی قیمت بلکل ټیټ کړیدې او د بلی خوا ئی د دغه محلی وطنی صنایع د پرمختگ او انکشاف لار تړلی ده .

(پای)

(د ۱۵ مخ پاته)

تا ته وایم؟

بحر در ته ووایم ... خو دا او به کله کله تر یو خوند لری ...

که د میو ساقی در ته ووایم ... خو څه چی ساقی یو اځی او یو اځی د میو په پیاله ساقی دی ...

نو څه در ته ووایم او په څه نامه دی و بولم خو در ته به ووایم چی څنگه وایم هغسی ئی ...

او چی څنگه ئې همغسی اوس زما گرانی ! ...

(پای)

ژباړونکی (خواجه):

بې هدفه هیله

موږ وینو چی ټول مخلوقات په یوه کار باندی اخته دی، د شاتو مچی د خوش بویه گلانو په لټه کښی دی ، الوتونکی مرغان د خپلو نغمو او خوږو آوازو سره بوټی او خاشی ټولوی چی ځانو ته ځاله گی جوړی کړی، ژمی هم خپل ځای د پسرلی وږمو ته وسپاره ، په دغه جنبش کښی یو ازی زه بیکاره یم چی نه شات جوړولای شم او نه کومه ځاله گی آبادوم .

زه درود د غاړی خوږ شمال ته چی په شنو مرغو باندی چلیږی او دیخو او بو چینی ته چی خوږی او به ئی لکه عسل غوندی بهیږی گورم .

اې د همیشه توب نعمتونو او ځلیږی، د هغو لپاره وځلیږی چی د شپی ورځی په گرزیدلو سره حرکت کوی او د خپلو ځانو څخه گټوری نښی او آثار پریږدی .

ای د روڼو و بوږکی ویالی تاسو هم مستی وکړی زه هم د خپلو وچو شونډو او گونجی گونجی تندی سره د زمانی او روزگار سرگردانی گالم .

آیا تاسی کولای شی چی په خپلو ویناؤ سره زما روح بیده کړی .

هو کی! بې له امید څخه کار کول د عمل شات غلبیلول دی او بی هدفه امید لکه بې روحه خوزیدونکی دی چی نشی کولای ژوندی پاتی شی .

دیوې شاعری پیژندگلوی:

انپزی ماریا گیتانا

د ایطالیی یوه ریاضی دانه او دژبی یوه متخصصه ښځه ده چی په میلان کښی په ۱۷۱۸ کښی پیدا شویده د دې پلار د ریاضی پروفیسر ؤ. په ۱۴ کلنی عمر یې فلسفه لوستله . او په ۲۰ کلنی عمر په خپل کور کښی یو اځی په تحصیل بوخته وه او د پلار ترمرگ وروسته یوه پاپ دغه ښځه د خپل پلار پر ځای په پوهنځی کی مقرره کړه وروسته بیا دغه ښځه په راهبانو کی شامله شوه دغه ښځه مشهور آثار هم لری .

د ریپورز دایجسټ څخه:

دفهیمی «بابی» ژباړه:

زموږ پیریانی کور

دهغې ورځې څخه چې دغه لیکوال اودده لوبغاړی ماندینه ددوی و نوی کور ته نقل مکان کړی دی ، هلته یه واړو واړو داسی بیمنا که او حیرانونکی واقعاتی پیښې شوی دی چې موږ هغه نه شو توضیح کولای.

یه ۱۹۶۲ع کال دجون دمیاشتی پر ۶ نیټه کله چې جمال زموږ اثاث البیت زموږ نوی کور ته چې د کالیفورنیا د ایالت یه «بیورلی هل» نومی ځای کښې پروت دی ورنقل کول دغه پیښه وشوه .

ما پخپل کوم وخت چې زما میرمنی (الك یو جرمن) دجریدو لیکوال اود هغه میرمن ما پخپل عصر یی ته دعوت کړی وه، هغه وخت چې (الك) چای یه پیاله کښې اچولی دجریده نگاه میرمنی وویل: «هغه سړی څوك دی؟ ».

الك وویل «کوم سړی؟!

دده میرمنی وویل: هغه سړی چې اوس دستی د خونی راووتی او د اوباژی دحوض وخوا ته تیر شو.

الك فوراً یه کتلو پیل وکړ اول د اوباژی حوض ته ، وروسته د ډوډی خوړلو خونی ته ولاړه د کومه ځای څخه چې هغه سړی راوتلی ؤ ، مگر هیڅوك ئی یه سترگو نسوه.

دلیکوال میرمنی ددغه سړی دلیدلو ډینگارو کړاوویی ویل: چې دایو قوی هیکله سړی او عمر ئی د پنځوسو کالو یه حدودو کښې ؤ . د سرو ویښتان ئی کم وه تور پتلون او سپین کمیس ئی اغوستی ؤ او توره نیکټائی ئی تړلی وه .

الك دغه قیصه دډوډی دمیز پر سرماته وکړه او دواړه ددغی واقعی د پیښیدو سره حیران پاته سولو، لیکن داموضوع مو جدی ونه بلل .

دوهمه حادثه دوې هفتې وروسته پدې ډول پیښه شوه:

کله چې زما خواښې یه زیرخانه کښې استراحت کړی ؤ هغه وخت چې دخوبه راویښه شوه خپل مخ ته ئی ژوندی سړی مشاهده کړ، دی ددغه سړی پهلیدو سره چې ددې د چپر کټ پښو ته ولاړ ؤ ډینگارو کړاووتی ویل:

کله چې ما یه چغو پیل وکړ دغه سړی ورك شو .

تر دغه وروسته تقریباً هره شپه موږ ددې ډوډی خوړو دخونی څخه آوازونه اوریدل او دغه آوازونه داسی اوریدل کیدل لکه چې څوك پسله دعوته چوکی بیرته ترمیز لاندی ایږدی، یه اول کښې موږ داموضوع مسخره گڼله او ویلهمو چې شاید دا یه دایټ «سړی» وی چې اثاث البیت دوباره ځای پر ځای او تنظیموی (څرنگه چې یه اوله کښې د پیریان دلیدو خبر دایټ یعنی د جرمنی لیکوال د ښځی دخوا خپورشو نو موږ پخپل مسابین کښې ددغه واقعاتو باني هغه سړی باله او هغه مو د لیکوال د ښځی یعنی د ایټ دسړی پنامه یاد اوه) یه هرصورت پسله څه مودې مو دا موضوع جدی وگڼله او د حفظ ماتقدم دپاره مو دهغو ونو څخه څانگی پری کړی چې د آشپز خانی ته کلکینو سر یه ئی تماس کاوه .

کله چې زما ښځی الك دفلم جوړولو دپاره یو گوسلاویا ته ولاړه، ما تصمیم ونیوی چې د بعضی کارو دپاره څو هفتی دلته پاته سم، کله چې زه یه کور کښې یواځی سم ډیر ناآرامه او یه تشویش وم یه تیره بیا د شپی له پلوه چې ددغو نادراحتیو بیان زه نسم کولای . که څه هم یه اوله کښې ما خپل ځان یه کور کښې یواځی نه حساوه او ډاډه وم لیکن وروسته بر علاوه ددا سی کارو چې روحاً سړی یه عذابوی نور واقعات هم لیدل کیدل .

یه واړو واړو یه ما د کور دزیرخانی کلکینان تړلی او قلف کړل خو سهار یه دا کلکینان

په ښکاره ډول خلاص ولاړ وه او همدغه رنګه د ډوډۍ د خونې واقعاتو او آوازو ادامه پیدا کړه .

د سرای د راننوتلو په دروازه پداسې حال کښې چې ما وتړله او قلف مې کړه خلاصول او تړل ئې د شپې دوه واره ما اوریدله ، عجبه دا چې سهار همدغه دروازه تړلې او قلف وه .

د دغو واقعاتو په پیښیدلو سره عجیب عکس العملونه ما ته پیښ سول د دغو آوازو د معلومولو د پاره ما درې دانې ترانسمیټرونه «مرسلې» رانیولې ، درې دانې اف.ام ډوله راډیو ګانې مې عاریت واخیستلې او په هره راډیو مې یوه دانه ټیپ ریکارډر وتاړه ، بیله د ګاراج د دروازې څخه سرای د داخلیدو دروازې نه درلودې ، ما هم یوه دانه مرسله د ګاراج په دروازه کښې چې سرای ته راخلاصیدله کښیښوله . بله دانه مې سرای ته د ننوتلو په لویه دروازه کښې او بله دانه مې د ډوډۍ خوړلو په خونه کښې پټه کښیښوول .

څرنګه چې ترتیبات نیول شوی وه زه د خوب په لوړه خونه کښې منتظر کښینستلم ، ضرورت پیښ نسو چې ډیر انتظار وباسم ، څه وروسته بیله دې چې کور ته د ننوتلو د دروازو څخه څه واورم د ډوډۍ خوړلو د خونې مایکروفون چې هلته پټ ایښودل شوی ؤ د چوکۍ ښورولو آوازونه د مرسلې د لارې ما ته خبر راکړ ، خپله مخصوصه پولیسي توپنګچه مې راواخیستله او د ډوډۍ خوړلو خونې ته ورغلم ، برق مې ولګاوه ، په خونه کښې هیڅوک نه وه چوکۍ په ترتیب پخپل پخوانی حال پرتې وې ، بیرته پاس د خوب خونې ته ولاړم او ټیپ ریکارډر ته مې غوږ ونیوی د ټیپ ریکارډر څخه داسې معلومه سوه کوم وخت چې زه کښته راغلم دا آوازونه خاموشه سوه په ټیپ کښې د سویچ وهلو بږغ زما عصبانی ټوخی او د چوکۍ ښورولو آوازونه پسله هغه چې ما خونه پریښودله په وضاحت ټیپ شوی وه .

پسله یوې هفتې ما یوګوسلاویا ته حرکت وکړ او په عین حال کښې مې د یو تن مخصوص پولیس سره خبرې وکړې چې کوم وخت چې زه په خارج کښې یم زما د کور مراقبت وکړی .

د ده څخه څو واره د کلکینونو د تړلو او خلاصیدلو د مشاهداتو او حادثاتو اطلاع راکړه سوه او اطمینان ئې راکړ چې برعلاوه د دغو واقعاتو کوم شی ضایع شوی نه دی .

دغه رنګه پدغه اطلاعیه کښې ذکر کړی وه چې د ۲۴ ساعتو د پاره ما سرای ترخپل سخت مراقبت او څیړنې لاندې ونیوی .

د سپتمبر په ۱۸ د سهار پر ۲ بجو او ۳۰ دقیقو د سرای څراغونه نا ببره ولګیدل کله چې زه کور ته نژدې شوم څراغونه مړه شوه

د دغې پیښې په لیدو سره مې برقی راوغوښت چې د کور د برق لینونه او فیوزونه وګوری که چیری د برق په لینو او فیوز کښې کومه خرابی موجوده وی هغه هم ګرده لینونه او فیوزونه په دقیق ډول سره وکتل او هغه ئې جوړ او سالم وبلل .

د عیسوی اختر څه د مخه زه او الک دا روپا څخه بیرته خپل هیواد ته راغلو او هره شپه به مو د ډوډۍ خوړلو د خونې څخه آوازونه اوریدل زموږ ۲ دانو سپو د دغو آوازو په اوریدلو سره عجب عکس العمل ښکاره کاوه کله چې به د ډوډۍ خوړلو خونې ته داخلیدل غپائی کوله (پاپی) سپی به د ډوډۍ خوړلو په خونه کښې پر یوه معین ځای په څغاسته پیل کاوه او پداسې توګه به د خونې څخه راووت لکه چې د کوم سړی پښو ته حمله وراچوی .

د ۱۹۶۵ ع کال په پسرلی موږ دواړه په کور کښې نه اوسیدلو او په همدې وخت کښې مو د خپل رفیق څخه غوښتنه وکړه چې کله کله زموږ د کور خبر واخلی وروسته زموږ رفیق جو قصه وکړه چې هر څونه چې ما دروازې ټینګې تړلې او قلفولې کله چې به بیرته راتلم یوه دروازه به خلاصه وه دا فکر مې وکړ چې ممکنه ده چې د دغو دروازو کلی دی د بل سړی سره وی د دې د پاره مې د دروازو قلفونه بدل کړل .

په ۱۹۶۵ ع کال د اګست په میاشت کښې ما او الک د کور دروازې وتړلې او د یوې میاشتې د پاره د بحر ساحل ته ولاړو پوه ورځ د موټر په ذریعه د مکتوبو او پوستې اخیستلو د پاره کور ته راغلو .

«مارون چانلر» نومې سړی چې د او بازۍ د حوض د پاکیدلو

کادیمی به غاړه ؤزما څخه ئې بوښتنه وکړه چې داسې چې ستاسو په غیاب کښې ستاسو په کور کښې اوسیږي څوک دی؟ ورته ومې ویل چې به کور کښې څوک نه اوسیږي ماوون ددې خبرې به جواب کښې وویل : ماهم تصور کاوه مګر دتیرې شنبې به ورځ مې یوقوی الجسه سړی

چې دګاڼو به الله اکبر جګ ؤتو ربتلون اوسپین کمیس ئې اغوستی ؤاوتوره نیکټایی ئې تړلی وه د ډوډۍ په اطاق کښې ولید کوم وخت چې زه د کور دودر واړې ته ورنوډې شوم اوغوښتې مې چې دده څخه بوښتنه وکړم

د نظره مې لکه چې تجویه سې داسې وړک سوه دسپتمبر به میاشت کښې زما لیکوال رفیق جانشرلاک زما څخه خواهش وکړ چې ددوورځو لپاره زما په سرای کښې واوسیږي بله ورځ ئې دتیلفون به ذریعه ماته وویل چې ماستاد کور څخه موقل (هوقل) ته نقل مکان وکړ او

علاوه ئې کړه چې دهغه وخت څخه چې زه ستا کورته ننوتلی یم داسې احساس مې کاوه لکه چې څوک ما تعقیبوی او تیره شپه کله چې ما د کښیناستلو په کښته خونه کښې استراحت کاوه داسې احساس مې وکړ چې ماته دې نژدې سړی ولاړ وی غر نګه چې مې سترګې خلاصې

کړې دخونې په دروازه کښې مې دیو مداسې سړی قیافه چې قد ئې شپږ فټه ؤتو ربتلون اوسپین کمیس ئې اغوستی او توره نیکټایی ئې تړلی وه ولید او په قهر ئې ماته کتل چې داسې تهدید آمیزه احساسات تر اوسه ماته نه وه پیښ

سوی چې دډیرې وارخطایی له لاسه زر دخونې څخه تسوای وتلای .

پسله دغو اطلاعاتو او واقعاتو ما تصمیم ونیوی چې زه باید به ښکاره ډول اعتراف وکم چې زما په کور کښې خارق العاده واقعات پیښیږي پسله هغه مې زما یو روحیات

دان رفیق ډاکټر رودریګ ګوردنی چې یو د روحیاتو دعلومو دتدریسی غړو څخه دیو س ایل ای دیو هنتون ؤ راوغوښت او ده ته مې دا حیرانونکی قصې به جدی توګه به وارخطائی سره وکړی . ده به جواب کښې وویل چې یو

دروحیات دانانو څخه چې دطب به فاکولته کښې اوسیږي او ده ای ایس پی آر (امریکائی ټولنې دفزیکی تحقیقاتو) دموسس دکارو سره پوره آشنائی لري او علاوه ئې کړه چې دغه مؤسسه ددرنو کورو به غیر قانونی واقعاتو او پیښو کښې به پلټنو کښې دلچسپی لري .

زه به ددوی سره تماس ونیسم پسله هغه مودې ده وویل چې ډاکټر گوردنی دای اس ایبی موسس داسې تقاضا لري چې څوتنه حساس خلک سره دوسایلو ستا کورته ولیږي آیا ته به دغه کار موافقه لري او دغه رنګه تې

علاوه کړه چې دغه څوتنه دجنوبی کالیفورنیا د ای اس، پی، آر به مؤسسه پورې اړه لري سر بیره پردې داهیئت ستا او الک څخه داخواهش کوی کله چې دوی دمعلوماتو لپاره هلته درځی ددې لپاره چې تاسو ددوی دمشاهداتو مخل واقع نسی باید تاسی هلته ونه اوسی به همدغه

ډول یو څه عجیب او غریب خلک زما کورته راغله دغه ټوله ډله به استثنا دیو څوتنو، جدی قیافې درلودی او صادق خلک وه دوی ټوله بدې عقیده وه چې زما کور دپیریانانو هستوګنځی ګرځیدلی دی .

ددغه ډلې حیرانونکی او خوف ناکه برجسته مشاهدات او مجالس چې زمونږ به کور کښې اجرا کړه په لاندې ډول دی : دا کتوبر به ۲۱ تاریخ ډګلس جانسن چې یو بابصیرته او بیناسړی ؤ دیوه تن دای اس پی آر دغړو سره مستقیماً دډوډۍ خوړلو خونې ته ولاړو بې ویل چې هلته ما داسې

سړی ولید چې بریتونه ئې درلوده دې سړی دموسیقی سره علاقه درلوده دایو چاغ اروپائی سړی دی چې خپل تیر عمر ئې به سخا تیر کړی یدی .

د نومبر به ۶ تاریخ دلات وان ستر ال میرمن چې یوه بله بابصیرته ښځه وه چې ډیر کلونه ئې دخپل استعداد او لیاقته څخه استفاده کړی به برلین او دجرمنی به نورو ښارو کښې ئې دپولیسو سره ډیر کومکونه کړیدی چې اوس ئې به لاس انجلس کښې ډیر شهرت درلود دغه ښځه زمونږ د

ډوډۍ خوړلو خونې ته ننوتله او دیوه قوی او باکینې سړی وجود ئې هلته اعلام کړ به ترس او لرزې ئې وویل چې دغه سړی زما سره تماس وکړی او علاوه ئې کړه چې دی زما څخه نفرت کوی او زما څخه غواړی چې دخونې ووزم

د نومبر به ۱۱ تاریخ یو بل سړی چې باکستن بل نومیدی

او ددرنو کورونو به پلټلو کښې ئې ډیر شهرت درلود زما ټول کورو پلاټه وی ویل چې ما یو پنځوس کلنی سړی چې وضع ئې بریشانه وه به کور کښې ولید او داسې فکر ئې کاوه چې دا یو داکټر ؤ چې دعمر به اخره کښې دزړه دحملې له امله مړ شوی او تصمیم ئې نیولی دی چې به همدې کور کښې باقی پاته شی .

د نومبر په ۲۲ نیټه بنډا کریشنا چې د برطانیې د روحي انجمن د معتبرو غړو د ډلې څخه ګڼل کیدی د ډوډۍ خوړلو خونې ته ننوتی او داسې اظهار ئې وکړ چې ما یو جګ سړی چې ۵۸ کاله عمر ئې درلود ولید دی د زړه د حملې په اثر په پاریس کښې مړ شویدی.

دا ډیر حیرانونکی اطلاعات وه په هر ترتیب د دغه پیریان دا شرح حال د هغه ډاکتر په قسم دی چې څه موده د مخه د ده سرګذشت ما لیکی او د دغه تالیف د مخه دی نا ببره مړ شو، دغه رنګه دغه شرحی حال د الك د پلار د سرګذشت سره هم په بعضی موضوعاتو کښې شباهت درلود.

په عین وخت کښې موږ د سرای د سابقه مالك سره تماس ونیوی د سرای په باره کښې مو پوښتنه څنی وکړه چې د دوی راپورونه د سرای په باره کښې قابل د اعتبار نه وه، دوی پدې سرای کښې د یو نیم کال د پاره استوګنه درلوده.

د سرای د مالك ښځې وویل: پدغه سرای کښې موږ ډیر جزئی شی غیر عادی او یا خارق العاده واقعاتی به غیر د دې چې کله کله به مو بعضی عجیب آوازونه اوریدل نه دی لیدلی. یوه شپه کوم وخت چې زما میړه د باندی تللی ؤ د شپې ۱۱ بجی وی چې ما استراحت وکړ چې د ډوډۍ خوړلو د خونې د پښو د تر پې په آواز، زه د خو به راویښه شوم. دا آوازونه دونه روښانه وه چې زه ئې ډیره وبیرولم فوراً مې خپلې رفیقې ته تیلفون وکړ د هغې څخه مې تقاضا وکړه چې که زه د دې کور ته ورتلای سم او د دې سره پاتیدلای سم، پدغه وخت کښې مې د خونې دروازه په ځان پسې قلف کړه او د تیلفون په ذریعه مې ټکسی راوغوښت څه موده وروسته ټکسی راغی او زموږ د کور ومخ ته ودریدی زه د ټکسی د ډریور د زنګ په انتظار په خونه کښې کښینستلم، دی رانغی بالاخره مې د خونې د کلکین څخه ورنارې کړه کله چې ده جواب راکړ په زینو کښې راکښته او په څغاسته په ټکسی کښې کښینستم پدې ضمن کښې مې د ټکسی د ډریور څخه پوښتنه وکړه چې ولی دی د کور زنګ ونه واهه او ما ته دی اطلاع را نکړه!.

ټکسی ډریور وویل چې: ستاسی د کور و دروازې ته سړی ولاړ ؤ فکر مې وکړ چې ممکن څه به غواړی کله چې ما تا ته جواب درکړ دغه سړی د نظره غائب شو.

د دې سرای دوهم مالك یو نجار ؤ چې عمر ئې څه کم ۵۰ کاله ؤ. نجار یو کال پدې کور کښې استوګنه کړیده، ده لدې کبله چې زما میرمن پدې سرای کښې یوازې نسوای پاته کیدای او ویله ئې چې دا سرای پیریانان لری سره د دې چې ما کوښښ کاره چې دې ته قناعت ورکم چې دا کار ناممکن دی مګر هیڅ فایده ئې نه کول څکه نو دا سرای ما خرڅ کړ.

د اثاث البیت د ښوریدو د آوازو د اولی واقعی او د ډهافیلډ د پیریانو د لیدو څخه تقریباً ۲ کاله تیر شوه تر اوسه په حدود و کښې د ۳۶ حساسو خلکو، وسایطو او مخفی پولیس زموږ کور ته راغلی دی او دوی اقلا دغی نتیجی ته چې دا کور پیریانان لری و موافقی ته رسیدلی دی تر ټولو مهمه دا چې دا ټوله راپورونه چې د دوستانو او نورو له خوا شرحه او ارائه شویدی په صحیح ډول بیان شویدی.

پولیس، د برق د حشراتو او د مغارې حیواناتو متخصصین چې د دې کار د پلټنې د پاره موظف شوی وه چې آیا حشرات، مغاریې حیوانات د مځکې لاندی د کلکین او یا د بلې لاری د کور تعمیر ته لار لری که چیری لاره ولری امکان شته چې دوی دی د دغو بیرونکو او حیرانونکو واقعاتو بانی وی پدې برخه کښې ټول دې نتیجی ته ورسیدل چې هیڅ شی حتی موږك د کلکین او یا د بلې لاری تعمیر ته لاره نه لری، حتی پدغه منطقه کښې لکه په نورو ځایو کښې سنجاق (حیوان) هم نسته کله کله سنجاق درختی ته خیژی او د کور د تعمیر د یوالونه په غاښو چیچی او داسې آوازونه چې د سړی د بیری سبب سی تولیدوی.

دغه رنګه د طبقات الارض پوهانو نظریه ورکړه چې د تعمیر لاندی مځکه بیحرکته او ثابته ده او هغه معمار چې دغه تعمیر ئې جوړ کړیدی معلومات ورکړ چې د کور تعمیر د جامدو موادو څخه جوړ شویدی که دا سوال رښتیاوی چې موږ د پیریانانو په تصرف کښې یو

(نور په ۲۸ مخ کښې)

د مصطفی لطفی منفلوطی له العبرات نومی عربی کتاب څخه:

د عبدالقدوس «نجیب» ترجمه:

«د ریمه برخه»

یادونه

امیر: د کار به دی ځما د ډیر ممنونیت موجب شی.

راهبی فلورنتا امیر ته د خدای به امانی لاس اوږد کړ او ولاړه، امیر هم د وژونکو او ژوندی کوونکو آرزوګانو په باداسکو کښی د خپل استوګنځی برلوړ رمی شو.

بیا سبا فلورنتا سم له وعدې سره امیر برخو آزادو وګرزاوه او ددوی دې ګرزیدلو ترلمر لویدو پوری دوام وکړ.

خلکو به د راهبی فلورنتا او عربی علمی د یوځای او چکر وهلو ته به حیرت کتل او ډول ډول تبصرې به ئی کولی:

یوه به د دا بل ته په غوږ کښی ویل چی دا غواړی د دینی خدمت په لړ کښی دغه عربی علمی خپل پاک دین ته راوبولی.

مګر داسی نه وه چی دوی ئې حدس کاوه، برته له عاطفی او مهربانی څخه ئی د امیر داسی د محبت اور په دیرونه کښی بل شوی ؤ چی بیله لیدنی او دیدو وادیده څخه به بل شی نه مړ کیدی ولی چی عاطفه بخپله محبت دی صرف د جامی د بدلون قدر توپیر لری.

د دوی دواړو په منځ کښی د عشق او محبت نور ډول مراتب تکمیل شوی وه خو فقط یو جرأت ئی غوښتی چی د زړو پاکی هیندارې سره وحلوی او هغه ورځ رانژدې شوه چی د لویی مافی (الحمراء) د کتلو لپاره سره یوځای شی او د لیدلو ؤ ګرځیدلو پروګرام ئې سرته ورسیږی.

خو په هرحال امیر د الحمرا د ښکلی مافی په مخ کښی بداسی حال کښی چی د نیکونو د تیر مجد و عظمت منظرې ئی د خیال په عالم کښی تر سترګو دوری ایسته کیدلی و د ریدی او دهغی شاهکارته حیرت یوړ، تا به ویل چک غږدی چی سرئې تر آسمانه پوری رسیدلی دی یا د تکو سرو مرغلرو کوڅه ده چی پلوشی ئې هر بخواته تیت و پرک کیږی.

امیر چی خوګامه ور واخیستل وې لیدل چی په براخو میدانو کښی سپینی قبی داسی ځلیږی چی تا به ویل له ستورو سره د روښنائی مسابقی کوی او داسی چک برجونه ولاړی دی چی برد بروئې له ډیر ښوړالی څخه لاس ښوبیږی، امیر به د عبرت او حسرت نظر وهری ګوښی ته اچاوه او له ځانه سره به ئې دا بیتونه ویل:

وقفت بالحمراء مستعبرا
معتبرا اندب اشتاتا

فقلت یا حمراء هل رجعة
قالت وهل یرجع من ماتا
فلم اذل ابکی علی رسمها
هیهات یفنی الدمع هیهاتا
کأنما آثارمن قد مضوا
نوائب تبدد بن اموا تا

ترجمه: «د الحمرا په دروازه کښی د عبرت اخیستونکی به ډول ودریدم له هرشی څخه می عبرت اخیستی او هرشی ته می کوږ بل واهه، ورته ومی ویل چی ای الحمرا! د تیر برم اعاده به کله وشی.

راته وې ویل: آیا هغه د مرګ برلاړ تللی بیاهم را ګرځی؟.

بدې وخت کښی ځما اوښکی د ارمان او حسرت په نغمو سرشوی به د ښتیا چی د مړو میړونو لیدنه دهغی جهاکی بوری ښځی به شان ده چی بخپلو خوانیمرګو تیرونو بسی ژاړی د امیر د سیکه وتلی قدمونه ورو ورو داخلی حرم ته نژدې شوه.

د حرم غولی په مرمری تکو سپینو تیږو فرش شوی او ترپو ښکلو جګو ستونو احاطه کړی ؤ د چادرچاپیر د ښکلو مانیو رونو قوبو به ئی د امر له روښنائی

سره دوړانګو شندلو مسابقې کولو ددې منظرې په لیدلو سره ئې په زړه کښې راز راز اندیښنې پیدا شوی او له ځانه سره به ئې کرار کرار د اویل آه دا خوزما

د نیکونو د اوسیدلو ځایونه دی په دې حرام سرای کښې به زموږ د کهول د ښځو څه شورما شور ؤ په دې وخت کښې ئې زړه له ګرومه څخه داسې تنګ شو چې تا به

ویل اوس به وچوی د یوې پټې پناګاه په آرزو کښې شو چې هلته په بیغمی سره خپل ډک زړه تش کړی مګر له هغې ښکلې ملګری څخه چې دده رهبری ئې کوله

وشرمیدی او د او ښکو ډکی سترګی ئې په پټه د دیوال د نقشونو د ننداري په پلمه ددې له خوا څخه واړولی ناڅاپه ئې سترګی یوې کرښې چې د دروازې پر سر

په پنډ قلم لیکل شوی وه جلب کړی او په ویلو سره ئې سوی کرډی له خولې ووتله له بیهوښې څخه د سر پر څیړی ومښتی یو ګړی وروسته چې ئې سترګی خلاصی کړی

سر ئې د فلورنډا پر زنګانه باندی ولیدی چې دده ومخ ته ئې هک ـ پک کتله او له ځانه سره ئې ویله زه پرون لا پوه شوم چې یو شی له ما څخه پټوی اوس را ته ثابته

شوه چې ته د بنی احمر مریی نه بلکه یو ددوی له امیرانو څخه ئې پرون ته ددې ځای مالک مګر اوس د یو خوار سیاح په حیث سره ورته ګوری او د حسرت تودې او ښکی تویوی تویوه ئې ولی چې د هر غفلت نتیجه دغه ده او د هر عیشو

نوش اساس پر محرومیت او نامرادی بنا دی .

ای د بنی احمر بد نصیبه !!!

ای د برګشت نګسی !!! نور نو امیر خپل اسرار نشو ای پټو لای د اندلس د وتلو له ورځی څخه ئې

بیا تر دغه دمه پوری چې دی پکښې واقع ؤ ټولی د زمانی د ګردش قصی په وضاحت سره بیان کړی له ډیره غمه څخه به ئې رنګ تور اوشین شو او په نیولی ډغ به ئې

وخپلی ښکلی ملګری ته داسی ویل: ای زما ښکلی فلورنډا د زمانی ګاللی زحمتونه او ستونزی هومره ترخی او وژونکی نه دی لکه د راتلونکی زمانی دیدنی .

فلورنډا! په تعجب سره پوښتنه ځنی وکړه هغه کومی دیدنی دی چې تر تیری شو و ستونزو ترخې وژونکی او ډارونکی دی .

امیر یو سوړا سویلی وکیښ او ئې وویل: زه د زمانې د ټولو سختیو د تحمل توان لرم مګر ستا د بیلوالی توان را پوری نشته .

فلورنډا: ته زما سره ټینګه مینه لری ؟

امیر! هو هغه مینه چې مړاوی ګل ئې د شبنم له غټ ځا ځکی سره لری .

فلورنډا ! له یوې مسیحی پیغلی سره چې ستا په دین نه وی ستا د محبت امکان نشته .

امیر:ـ هو ځکه چې په زړه کښې د محبت لار د دین له لاری څخه بیله ده .

فلورنډا ـ آیا ستا د محبت اعلان به له ما سره بیله کومی غایی وی ؟!

امیر ـ آیا مینه لو غایه نه ده او د ځان په قربانی سره نه ارزی ؟؟

مینه سعادت دی د سعادت د حدود و

(د ۲۶ مخ پاته)

زموږ پیریانی...

نو په خپله پیریانان چیری دی ما او الك ساعتونه وخت پر دغه معضله باندی مصرف کړیدی چې د دغه واقعاتو رابطه واصلی بانی ته پیدا کړو چې آیا بانی د دغه واقعاتو د سرای په تعمیر اړه

لری او یا په هغو فامیلو چې زموږ سره فامیلی اشتراك لری اړه پیدا کوی او یا د کور په خاوندانو اړه لری بر سیره پر دغه ټولو جدی پلټنو موږ هیڅ نتیجی ته نه یو رسیدلی .

د تجارت پیشه ډاکتر قراینی چې په تجارت کښې د افلاس سره مخامخ سو هم موهومات معلومیږی ترکمه ځایه چې موږ معلومات حاصل کړیدی هیڅ یو د دغه ذکر سوی خلکو څخه نه په دغه

سرای او نه په دغه محل اړه درلوده . پیریان سړی او یا هر شې چې وی موږ د هغه څخه نه بیریږو او خپل کور نه پریږدو .

بیا هم څو ورځې د مخه په داسی حال کښې چې ما ټوله دروازې په احتیاط سره وتړلی او قلف می کړی د بیدید لو

آماده ګی می ونیوله چې آرام خوب وکړم کله چې زما سترګی پټی سوی الك زه وښورولم او را ته ویی ویل: غوږ ونیسه زه هم د ځایه راوپا ځیدم چې غوږ می

ونیوی وامی وریده چې د ډوډۍ خوړلو د خونی چوکی بیا په حرکت راغلی دی .

(پای)

به مملومو لوسره انسان کولای شی چی ومطلب ته نزدې شی .

فلورنډا به دې وخت کښې پټه خوله وه ددوی دنورو سوالوجواب ترسبا پورې و ځنډیدی او د استراحت کولو لپاره بیلو بیلو خونو ته ولاړل به داسبا دلمر دلومړیو پیلو شو دخپریدو پرمهال دا دوه مین بیا به موعوده ځای کښې سره یوځای شول او دمفاهمې ومذاکرې داستان ئې خپور کړ .

فلورنډا خپل لاس دامیر به لاس کښې ورکړ او وې ویل ته هم پرما گران ئې او زما هم له تاسره بې مقصده محبت دی که څه هم دین زما وستا بدنو نه سره بیل کړی دی محبت او مینې موږ ونه سره یوځای کړی او حتی یوه ټوټه ئې گرزولی دی فقط دا ئې وویل اوتن هم رخصت شوه .

مقصد دادی چی سر له دغې ورځې څخه ددواړو شپې ژورځې خوږې تیریدې به خپل زړه به دغر ناطی به شنو مخکو کښې گرزیدل او هرځای چی به ئې دخپلو نغمه سرایيو او دراز و نیاز له پاره مساعد گاڼه هلته به کښینستل خو کاشکې دزمانې وړې سترگې نه وای

او پردوی ئې دسعادت دا خولنډ ساعتونه چی دا وښکو بهولو او کړاو گالو به بدل کې ورښکل شوی و ډز ته وای ترخه کړی . یوه ورځ دا دوه ښایسته مرغان او رښتنې مینان دعین الدمع دیوې کوچنې ولې پرشنه غاړه ناست وه چی ناڅاپه (الدون رودریک) دغر ناطی

دحاکم زوی ددوی له اړخه سره تیر شو او په حیر حیر ئې ورته وکتل ـ دې هلک فلورنډا خو عمر دمخه چیری لیدلی او خوښه کړی وه نو ئې پسله ډیرو مقدمو څخه له دې څخه دازدواج خواهش کړی ؤ او دی ئې په جواب کښې ویلی وه چی زه دخپل پلار دقاتل دزوی سره واده

نه کوم دې ترخه جواب دهغه متکبر مدمغ دماغ ورسوی او دموقع به تلاش کښې ؤ خو داؤ چی دا ئې له یوه عربی علمی سره ناسته ولیدله او به خیال کښې ورو گرځیده چی فلورنډا لا یخوا زړه ددې عربی علمی به مینه کښې

بند کړی ؤ نو به دا بله ورځ به قصد دهغې قصر ته ولاړی غوښته ئې چی خپل دا گمان څرگند کړی مگر له مقابل طرفه څخه دصحبت اجازه ورنکړه شوه به دې سره د حاکم دزوی غضب لا یو به دوه شوه او به ډیر قهر سره

له قصره ووت او ولاړ دهوسایی او عشرت خوږی ورځی دخولنډو شیبو به شان دزمانې به لا ینقطعو خپو کښې ویوې نامعلومې خواته خپرې شوې خو ورځې پس امیر سعید بن یوسف بن عبدالله دبنی احمر دقبرسکه لمسی چی پلرونه ئې ددې ملک پرونی پاچهان وه به ډیر ذلت سره دمحکمې به مخ کښې به دې تورو دروول شو چی یوه مسیحی

پیغله ئې له خپله دینه څخه پښیمانه کړی او گرزولی ده دا تور دمحکمې به نظر له درنو جرایمو څخه ؤ امیر د محکمې به مخ کښې دمجرمینو به موقف کښې ودرول شو او رئیس ئې دجرم دوسیه ولوستله او بیا ئې له ده څخه پوښتنه وکړه امیر له دې ناڅاپی تور څخه انکار وکړ

خو فایده ئې ورته ونه کړه دفیصلې به آخر کښې د امیر دخلاصون لپاره فقط یوه لاره وه تا کل شوه او هغه دا چی امیر به له خپله دینه څخه اوړی او دپیغلې دین یعنی مسیحیت به قبلوی ددې خبر به اوریدو سره دامیر وریښتان شخ ودریده او له غضبه څخه ئې داسی چیغه پورته کړه چی

دا نمکاس سلسله ئې دمحکمې دعمارت تر آخره پورې ورسیده او وې ویل ستاسی به کتابو کښې کوم کتاب او ستاسی به پیغمبرانو کښې کوم پیغمبر ویلی دی چی دهغو کسانو دینې بهوی چی ستاسی به دین نه وی نه یو هیوم

تاسی دمحکمې له کومی برخی او د آسمان له کومه کولکه څخه راویدلی یاست ؟ چی به خلکو به زور او اکراه سره خپل عقایدمنی هغه قبولونه چی تاسې دخپل رانګک به وخت کښې ددین دآزادی به باره کښې له خلکو سره کړی وه څه شوه آیا ستاسی به نیز دوعدو ایفا به دغه ډول سره ده ؟.

هو به رشتیا حق لری نن هغسی چی غواړی وئې کړی محکمه چی نن ددې وطن دروازه ستاسی دخواهشاتو پرمخ خلاصه ده او دحکمرانی دا قتدار لاس مو بکښې او ددې نن به هرومرو هغه کیږی چی تاسی ئې غواړی له هغو ناپوهانو څخه خدای هیڅکله دتمدی ناودین نه لیری کوی

چی دجابرینو به تشو قولو غولیږی او س چی تاسی واکمن او موږ بی واکه یو نو دا مسلمه ده چی حق او حجت ستاسی قوی او پر جانب دی هره آرزو چی لری تر سره ئې کړی .

امیر به لا وخپلو دې خبرو ته طوالت ورکاوه چی رئیس بې خبره پریکړه او امر ئې وکړ چی ژر ئې دمرگ میدان ته کش کړی .

(نور به ۳۰ مخ کښې)

دخارجي منابعو څخه:

دعبدالصمد نصرخواه ژباړه:

عصبيتوب

ټوله ساکښان دژوند سره مينه لري خو کوم شيان چي دژوند اساس برابروي هغه ته هڅه کوي او کوم شيان چي ژوند په خطر کښي اچوي دهغو څخه ځانونه ژغوري ساکښان که کوچني وي او که لوي خو هغوي ټوله يو نوع دفاعي قدرت لري او دخپل مجهز والي له امله دځينو خطرونو څخه ځانونه ساتلاي شي او حتي ځيني دحملي توان هم لري ځيني ساکښان دغاښو او پنجو په وسيله او ځيني بيا دزهر لرونکو نيښو په واسطه مقابله کولاي شي ځيني ساکښان بيا د تيښتي څخه کار اخلي او ځانونه دناوړو پيښو څخه ساتي .

په دغه مورد کښي انسان هم دخپل ژوند دحقوقو دفاع او دخپلو ګټو دساتلو لپاره هڅه کوي دزيان او آفتو څخه ځانونه ساتي ، خو کله چي ځان، مال يا ناموس په خطر کښي ووينی نو طبيعي حالت ئې اوړي دقهر او غضب نښي پکښي ښکاره شي .

دانسان لومړني دفاعي مرحله دغضب او خشم څخه شروع کيږي او په دغه وخت کي دده عقلي، فکري او جسمي انرژي په کار لويږي او هڅه کوي چي متوجه شوي خطر له منځه يوسي او يا دهغه دمقابلي او مبارزي لپاره چمتووي دپورتني حالت څخه ښکاري چي غضب دانسان ددفاعي وضعيت سره مستقيمه رابطه لري او ويلاي شو چي دغضب دپيدا کيدو عامل دانسان په پيدا ښت پوري تړلي دي .

دهمدې اصل له مخي دانسان غضب يو سرسري کار نه دي بلکه دهغه وجود دانسان دژوند سره مل دي .

که څه هم غضب او قهر بد بللي شويدي خو په ځينو مواردو کښي دقهر او غضب پريښودل هم بد او غير منطقي دي .

په هر حال هغه څوک چي بي مورده پرچا په قهر او غضب کيږي وخت، زمان او موضوع په نظر کښي نه نيسي ګواکي په حقيقت کښي دمزاج اعتدال نه لري او دفکر کولو کنترول ئي له لاسه وتلي دي او دعقل دستګاه ئي خرابه ده او نه شي کولاي چي دغضب په وخت کښي د عواطفي احساساتو څخه کار واخلي د داډول وګړو عقل ديو ډول مشکلاتو سره مخامخ وي او په دغه وخت کښي هيڅکله ديو ۰ استدلال تصميم نه شي نيولاي څرنګه چي داډول غضب انساني عواطف او منطق له منځه وړي نو ځکه غضب بد بلل شوي او په اسلام کښي هغه په شيطاني عمل تعبير يږي، او داسلام دين دقهر او غضب څخه په پرهيز کولو امر کوي او وائي چي دپاک خداي [ج] په وړاندي هغه څوک ښه دي چي دغضب په وخت کښي له حقيقت څخه وانه وړي او نه دغضب په حالت کښي په تعدي او ظلم لاس پوري کړي .

بې مورده غضب او قهر ډير بد دي دانسان دفکر او عقل څرخ ورانوي او دهر چا چي بې مورده غضب او قهر ډيروي په همهغه اندازه يي بدبختي او پښيماني ډيره وي که چيري دتند خويه او عصباني سړي پښيماني نه وي نو په حقيقت کښي دا بيا دهغه يو قسم ليونتوب دي .

بې مورده غضب او قهر دپوهو انسانانو په وړاندي ډير بد ښکاري او لويه ګناه بلل کيږي او سربيره پر دغه کله کله انسان دلويو آفتونو حتي دجنايت او قتل سره هم مخامخ کوي .

امام جعفر صادق [رح] وائي : غضب دټولو بدو او ناوړو پيښو کلي ده .

موږ بايد کوښښ وکړو چي په داډول ناوړه ناروغي اخته نه شو ځکه داخته کيدو په صورت کښي به دډيرو سختيو سره مخامخ يو .

(د۲۹مخ پاته)

يادؤنه

هغه ميدان ته چي تر ده دمخه لس زره مسلمانان پکښي حلال شوي او ياسو ځل شوي دي ـ ډير خلک که نران وه که ښځي دامير داعدام ننداري ته راووتل زړه سختي جلادلا خپله په وينو ککړه توره دامير پر نازنينه غاړه نه وه ايښي چي دننداره چيانو دصفو له منځه څخه يوه سوي کربږه پورته شوه او يو سرد ګيند په ډول سره چي په سرو وينو ککړ ؤ په سپير وخاورو کښي ولغړيدي نن په غرناطه کښي دبني احمر دهديري له څنګه سره يو مجلل قبر چي شنه درخام ډبره پر آيښول شوي ده او څو دالنډي خبري پر ليکل شوي دي ليدل کيږي د ادبني احمرو آخرني قبر دي .

دده دوفاداري ملګري له خوا فلورنډا فيليپ

(د ۱ مخ پاته)

د مترقی ژوند او حقیقی...

سره بیل دی نو دغه رنګه د هر هیواد پر مختګ، ذهنی انکشاف، مادی او معنوی تحول هم بیل طرز او شرایط ایجابوی او د نړۍ بیل بیل ملتونه کولای شی چه د خاصو شرایطو او ایجاباتو لاندی پرمخ ولاړ شی او ځانو نه حقیقی نیک مرغی ته ورسوی.

زموږ په هیواد کی د پیړیو پیړیو راهیسی د اترتیب راغلی دی چه زموږ خلک د اسلامی معتقداتو، ملیت او ملی ایډیالوژی په چوکاټ کی ارتقائی تغیر او مثبت تحول په آسانی سره منی او د دغی لاری څخه پرمخ تلای شی.

نن د نیکه مرغه زموږ هیواد د مثبت تحول او عصری ژوند په درشل کښی دی، د یوی خوا مو پوهنه او روزنه په خلکو کی تعمیم او پراختیا مومی او د بلی خوا مو په بیلو بیلو برخو کی د ځوانانو د کار او زحمت ایستلو په برکت او د دولت په پاملرنه او کوشش د ژوند په بیلو بیلو اړخونو کی نوی پروژی او اصلاحی پلانونه یو په بل پسی عمل کیږی او خلک موهم د دغو انکشافاتو هر کلی کوی او د خپل هیواد په ملی او اجتماعی چارو کی د ګډون او برخی اخستلو سره مو د خلکو علاقه زیاتیږی.

افراط او تفریط هغه لاری چاری او نامطلوب حرکتونه چه زموږ د ملی پرمختګ دلاری لوی خنډ ګرزی او نه پریږدی چه زموږ ټولنه او هیواد سالم انکشاف وکړی او د مثبت تحول څخه ګټه واخلی او ټول خلک مو د عصری ژوند او د هغه د ښیګڼو څخه برخه ولری.

دغه رنګه اجتماعی فسادونه، ناوړه خویونه، او د شخصی ګټی خیالات موږ په خپل اوسنی ارتقائی موقف او ملی حرکت کی پر مختګ ته نه پریږدی او هیواد مو د لوړ تیا او نیک مرغی څخه راګرزوی نو باید موږ ټول د دغو غلط فکرونو او ناوړو کارونو څخه ځانونه په ټینګه ګوښه کړو او پر هغسی سمه لار ولاړ شو چه د هیواد پر مختګ ته مو لازمه او ګټوره ده.

راشی چه نن خپلو ځانونو ته یو څه تکان ورکړو د رځی چه د خپل اسلامی دین او افغانی کلتور د اساساتو سره سم د خپلو خلکو اجتماعی او ملی ژوند تنظیم او نوی رونق ورکړو او خوښ ته او سو چه د دی عصر خطرناکه آفتونه لکه فقر، رنځ، ناپوهی، بی سوادی، یو پر بل ظلم کول او داسی نور زموږ ملی نیک مرغی او ولسی هوساینه را مختله او نیمه خواکړی بلکه باید په ګډه د دغو ناوړتیاؤ پرضد په ملی مجادلو لاس پوری کړو او خپل هیواد د پرمختګ پړاؤ ته ورسوو او خپل حقیقی نیک مرغی تر لاسه کړو.

(غلام محی الدین ایوبی)

پدې عکس کې د کندهار د عمراني فعالیت په لړ کې د ظاهر شاهي واټ په لومړي برخه کې
د ښاروالي عصري مغازي لیدل کیږي